د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# میاشتنۍ

۷ گڼه

دوهم کال ـ جمادی الأول





# آبادي

- ایران هېواد ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د امارتي پلاوي سفر
- بهرنۍ پانګونه؛ ارزښت او په اقتصادي پرمختګ کې يې ونډې ته کتنه
- The Significance of Foreign Investment in Economic Development

## ګرانو هېوادوالو!

په افغانستان کې نوي سیاسي تحول دې ته لار هواره کړه چې د افغانستان خلک له سیاسي، نظامي، اقتصادي او فرهنګي نظره خپلې ټولې چارې په خپلواکه توګه په لاس کې واخلي.

د سیاسي ثبات تر رامنځته کېدو وروسته اقتصادي وده او پرمختګ مهمه او حیاتي موضوع ګڼل کېږي، چې د یوه هېواد په بیارغونه او ښېرازۍ کې رول لري، ترڅو خلک له فقر، بېکارۍ او تنګلاسۍ څخه وژغوري. په همدې توګه د افغانستان د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي، چې د خپل ولس اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای یوازې پر خپلو پرېمانه کورنیو سرچینو متکي کړي.

الحاج ملا عبد الغني برادر اخوند

@FDPM_AFG dpmea.gov.af @FDPM_AFG

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
The Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو رياست


بسم الله الرحمن الرحيم

# آبادي

۷ گڼه

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت
مياشتنۍ

**د امتیاز خاوند:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** مولوي سید علي، مولوي ذبیح الله، مولوي عبدالله عزام، امان الله حنیفي او فضل ولي شیراني

**مسئول مدیر:** مولوي خالق‌داد تقي

**مرستیال:** احمدشاه راشد

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

**فوټوژورنالیست:** سید عشرت رحمتي

**چاپ:** بهیر مطبعه

پته: مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

ټیلیفون: 0202107500

برېښنالیک: media@dpmea.gov.af

وېبپاڼه: dpmea.gov.af

- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سـرلیـکـنـه ۱

د اقتصادي او ملي تدارکاتو کمېسیونونو غونډې ۲- ۹

د پـروژو پـرانیستـه ۱۰ - ۱۷

کنفرانسونه، لیدنې او سفرونه ۱۸- ۴۲

ایران ته د ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د لوړ پوړي اماړتي پلاوي سفر ۲۷- ۴۲

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۴۴- ۵۴

د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پیغامونه ۵۶- ۵۸

انـګلیسـي بـرخـه ۵۹- ۶۴



# سرليکنه

هغه اهميت ته په کتــو سره چې اقتصاد په نړيوالــو اړيکو او تحولاتو کې پيدا کړی دی، هېوادونــه هڅې کوي تر څــو يو له بل سره خپلمنځي اقتصادي او سوداگريزې اړيکي نږدې کړي. د افغانستان اسلامي امارت هم له وروســتيو سياسي تحولاتو وروسته پر دې توانيدلی چې د گاونډيو په گډون د سيمې او يو شمېر نورو هېوادونو سره خپلو سوداگريزو او اقتصادي اړيکو ته پراختيا ورکړي.

په همدې لړ کې د اسلامي امارت د رياست الــوزراء اقتصــادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په دې وروســتيو کې ايران ته سفر وکړ. په دې سفر کې نوموړي د ايران د ولسمشر له مرستيال محمد مخبر، د ايران د بهرنيو چارو، د کورنيو چارو، کرنې، او د انرژۍ له وزيرانو، د ملي امنيت عالي شورا له رئيــس او دغه راز يې په دغه هېواد کې د مېشــتو افغان پانگوالو، د چابهــار بندر له مسوولينو او په چابهار نړيوال پوهنتون کې له افغان محصلينو سره وکتل. د رياست الوزراء اقتصادي مرســتيال د ايران د ټکنالوژۍ او تخنيــک له نندارتــون او په تهــران کې د افغانستان له سفارت څخه هم ليدنه وکړه. د رياســت الوزراء اقتصادي مرستيال له يادو چارواکــو سره د دوه اړخيزو اړيکو د پراختيا ترځنگ د سوداگرۍ، صنعت، کانونو، تېلو، ترانزيټ، پانگونې، کرنې، سرحدي مسايلو، روغتيــا، لارو او رېــل پټلــۍ، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، چابهار بندر له لارې د ســوداگرۍ پر زياتوالي، په دې بندر کې د افغانستان د ښکېلتيا د پراختيا او دغه راز په ايران کې د مېشت افغان کډوالو د ستونزو په اړه خبرې وکــړې. د دې ترڅنگ محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او مل پلاوي له چابهار بندر او يوشــمېر صنعتي او توليدي فابريکو هم ليدنه وکړه. د دغه ســفر پرمهال په بېلا بېلو برخو کې يو شــمېر هوکــړه ليکونه هم لاسليک شول.

ايران ته د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د ســفر موخه دا وه چــې د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړيکې پراخې کړي. د ليدنو کتنو پرمهال د رياســت الــوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل چې د شــل کلن امريکايي اشغال له پای ته رسېدو وروســته افغانستان په خپلو ټولو چــارو کــې خپلــواک دی او د خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو په پام کې نيولو سره له گاونډيو، ســيمې او نــړۍ هېوادونو سره تعامل ته راواړاندې شــوی دی. د نوموړي په خبره د افغانستان اســلامي امارت د خپل اقتصاد محوره سياست پر بنسټ غواړي چې لــه ايــران سره اقتصــادي، ترانزيتــي او سوداگريزې اړيکې پراخې کړي.

له دې څخه جوته شــوه چې اسلامي امارت غــواړي له گاونډيــو هېوادونــو سره خپلې اقتصادي او سوداگريزې اړيکې پراخې کړي چې دا هم د افغانســتان او هــم د گاونډيو هېوادونو په گټه دي، ځکه افغانستان د خپل ســتراتيژيک موقعيت له مخــې د گاونډيو هېوادونو د ســوداگرۍ او ترانزيټ له پاره يو مناســب هېواد دی. افغانســتان د اسيايي هېوادونو ترمنځ د پله حيثيت لري او کولای شي د وچې له لارې دا هېوادونه په خپلو کې سره نږدې او ونښــلوي او کولای شي د دوی سوداگرۍ ته پراختيا ورکړي.

دغــه راز موږ هم که غواړو چــې اقتصاد مو پرمختــگ وکــړي او بهرنيــو هېوادونو ته د افغاني توکو د رســولو له پاره اسانه او ارزانه لارې پيدا کړو، بايد هغه لارې او مســيرونه چــې د توکو د لېږد له پاره لنډ او ارزانه دي، غوره کــړو. ددې لارو څخه يــو هم د ايران چابهار بنــدر دی. د دې بندر له لارې به له يوه لوري افغانستان له اوبو سره ونښلول شي او له بل لوري به په کمــه موده او ارزانه بيه خپل ســوداگريز توکي تر نړيوالو مارکيټونو ورسوو. ددې چارو په ترسره کېدو سره به مو اقتصــادي وده چټکه او موږ به د يو خپلواک اقتصاد څښتنان شوو.



# د اقتصـــــــــــــــادي
# او ملي تدارکاتو کمېسيونونو

# غونډې

# جلسۀ نوبتی کمیسیون اقتصادی

## به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در قصر مرمرین برگزار گردید

جلسۀ نوبتی کمیسیون اقتصادی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در قصر مرمرین برگزار گردید. در نشست بعد از غور و بررسی همه جانبه طرزالعمل حفاظت از معادن که از سوی وزارت معادن و پترولیم تهیه گردیده بود، تائید شد و به وزارت معادن وظیفه سپرده شد تا به منظور حل نکات مورد بحث با ریاست عمومی تصدی ملی محافظت عامه نشست داشته باشد. ریاست عمومی محافظت ملی جهت حفاظت از معادن کشور، قطعه اختصاص داده شده را در سراسر کشور تقویت و منظم سازد، تا از استخراج غیر قانونی و خود سر جلوگیری شود. در جلسۀ کمیسیون اقتصادی تصمیم گرفته شد تا به منظور رساندن برق به ولایت ارزگان، گزارش ترتیب شده از طرف وزارت آب و انرژی و شرکت برشنا را به دفتر مقام امارت اسلامی بفرستد و مطابق به هدایت آن مقام اقدام صورت گیرد. در نشست کمیسیون اقتصادی به کمیتۀ تشکیل شده از وزارت شهرسازی و مسکن، شرکت دولتی ارزاق و شاروالی کابل وظیفه داده شد، تا طرحی را مطابق اصول شهری برای مارکیت میوه و سبزی در ساحه کمپنی مربوط ناحیه پنجم کابل تهیه و جهت منظوری به جلسۀ آیندۀ کمیسیون اقتصادی پیشکش نماید. در پایان نشست در مورد استفاده از سمنت غوری و جبل السراج به کمیته متشکله به شمول نماینده معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء، وزارت های فواید عامه، انکشاف دهات، شهرسازی و مسکن و همچنان شرکت انکشاف ملی و اداره ملی ستندرد وظیفه سپرده شد تا تیست های کیفیت سمنت غوری و جبل السراج را بار دیگر انجام دهد و گزارش خود را در ظرف پنج هفته جهت تصمیم نهایی به کمیسیون اقتصادی ارسال دارد.



### اقتصادي کمېسیون؛

# د ملي پراختیا ستراتیژۍ پر جوړولو هوکړه وشوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکلو موضوعاتو بحث وشو.

په یاده نوبتي ناسته کې د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژۍ پر جوړولو تر هر اړخیز بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په مشرۍ او اقتصاد وزارت په سکرتریت دې د اقتصادي کمېسیون له غړیو وزارتونو او ادارو څخه یوه ګډه کمېټه جوړه او د ټولو امارتي ادارو کړنلارو او پلانونو ته په کتو دې د یادې ستراتیژۍ مسوده نهایي او د منظورۍ لپاره دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړل شي.

د اقتصادي کمېسیون په ناسته کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت استازي په ګډون د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ؛ کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، کانونو او پټرولیم او مالیې وزارتونو څخه ګډې جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د کجکي بند اړوند د استملاک شویو ځمکو د چارو عملي کېدو، د پاتې ځمکو استملاک او د بند په کاسه کې د رسوباتو د پاکولو د امکاناتو ارزونې په موخه دې سیمې ته سفر وکړي او خپل راپور دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

همدارنګه په یاده ناسته کې د افغانستان بانک په مشرۍ د مالیې او کانونو او پټرولیم وزارتونو څخه ګډې جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د زرګرانو اتحادیې له استازو سره په ګډه له هېواد څخه د سرو زرو قاچاق د مخنیوي په موخه هر اړخیزه څېړنه ترسره او خپلې موندنې له اقتصادي کمېسیون سره شریکې کړي.

د غونډې په پای کې د بې کیفیته او غیر قانوني درملو د ورود او قاچاق د مخنیوي کړنلاره منظوره شوه. د دغې کړنلارې د پلي کولو لپاره د خوړو او درملو ملي ادارې په مشرۍ د مالیې، کورنیو چارو، ملي دفاع، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او استخباراتو لوی ریاست د مرستیالانو په کچه یوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې دغه کړنلاره له منظورۍ وروسته پلې کړي.



## د کانونو او پټرولیم وزارت دې د کشک-تیرپل احتمالي حوزې د جیوفزیکي سروې ګانو قرارداد آزادې داوطلبۍ ته وړاندې کړي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم پر ټاکل شوو موضوعاتو بحث وشو.

د اقتصادي کمېسیون له لوري تر هر اړخیزې ارزونې وروسته پرېکړه وشوه چې کانونو او پټرولیم وزارت دې د کشک – تیرپل احتمالي حوزې د جیوفزیکي سروې ګانو قرارداد آزادې داوطلبۍ ته وړاندې کړي. یاده نفتي حوزه د ۲۳ زره کیلومتر مربع مساحت په درلودو سره ټول‌ټال ۱۰ بلاکونه لري او د هرات او بادغیس ولایتونو ۱۳ ولسوالۍ رانغاړي.

په غونډه کې تر مفصل بحث وروسته پرېکړه وشوه چې د اقتصادي معاونیت د استازي په مشرۍ دې له ملي دفاع، کورنیو چارو او مالیې وزارتونو او د استخباراتو لوی ریاست له مرستیالانو څخه متشکل هیئت د سټندرډ ملي اداري په ملتیا د هېواد بنادرو ته سفر وکړي او هلته دې د بې کیفیته تېلو او په ټانکرونو کې د سرباري موضوع په هر اړخیزه توګه وڅېړي او خپل راپور دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د هرات ولایت ګذرې ولسوالۍ د مسافر وړونکو موټرو د ترمینل او فاریاب ولایت د آقینې بندر تیر پارک جوړولو پروژو طرحه د اقتصادي کمېسیون له لوري په پرنسیپ کې تایید شوه. د دغې طرحې پر اساس به خصوصي سکټور له ټرانسپورټي اصولو سره سم د شاوخوا دوه میلیارده افغانیو په ارزښت پانګونه وکړي، چې د جوړولو چارې به یې په دوو کلونو کې بشپړې او سلګونو کسانو ته به د کار زمینه برابره کړي.

د کندهار ولایت د نېش ولسوالۍ د فلورایټو کان د قراردادونو قېمتونو د اصلاح په موخه د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې په هر اړخیز ډول څېړلي وو. د یادې کمېټې څېړنو او موندنو ته په کتو اقتصادي کمېسیون د یادو فلورایټو د في ټن لپاره ۱۵ زره افغانۍ قېمت وټاکه.



د لغمان شاهي کانال پروژې د بشپړولو په اړه د اقتصادي کمېسیون له لوري د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ او اوبو او انرژۍ وزارتونو ته دنده وسپارل شوه، څو په ګډه د دغه کانال پاتې تخنیکي مطالعات ترسره او د یادې پروژې په تړاو خپلې دندې مشخصې کړي. د اقتصادي کمېسیون له لوري پرېکړه وشوه چې د دغه کانال د جوړولو مصارف دې د ۱۴۰۳ مالي کال په پراختیایي بودیجه کې ونیول شي.

همدارنګه د جوزجان ولایت قوش تېپې او درزاب ولسوالیو ته د برېښنا رسولو په اړه د اقتصادي کمېسیون له لوري پرېکړه وشوه، چې د یو کان په بدل کې دې له مرکز شبرغان څخه یادو ولسوالیو ته له ترکمنستان څخه د راتلونکي برېښنا لین وغځول شي، څو هلته د مېشتو هېوادوالو ستونزې حل او صنعت ورسره وده وکړي.

په تورخم بندر کې هېوادوالو ته د ښو خدماتو وړاندې کولو او لازمو سهولتونو رامنځته کولو په موخه اقتصادي کمېسیون پرېکړه وکړه، چې دغه ګمرک ته دې نږدې ۵۴۰ جریبه ځمکه مالیې وزارت ته تسلیم شي، څو هلته تړولو اړوندو ادارو ته کارځایونه جوړ شي.

د غونډې په پای کې پرېکړه وشوه چې په خوست، پکتیا، پکتیکا او لوګر ولایتونو کې دې هغه وچ د سون لرګي چې اوسمهال په موټرو کې بار او یا له خلکو سره په کورونو کې پراته دي، د یوې میاشتې په جریان کې په ضمانتي ډول د انتقال اجازه ورکړل شي. په همدې موخه ټاکل شوي هیئت ته دنده وسپارل شوه چې د راتلونکي لپاره دې د ځنګلونو د ساتنې په موخه یو جامع طرزالعمل جوړ او د منظورۍ لپاره دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.







### اقتصادي کمېسيون د وړانديز شوو تعديلاتو په نظر کې نيولو سره

## د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې کړنلاره تایید کړه

د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه.

د اقتصادي کمېسيون په نوبتي غونډه کې تر هراړخيز بحث وروسته د وړانديز شوو تعديلاتو په نظر کې نيولو سره د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې کړنلاره تایید شوه. د بين‌الوزارتي کمېټې د رامنځته کېدو موخه د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جلب او جذب د بهير چټکتيا، د پانګونې د طرحو په طی‌مراحلو کې د اړوندو وزارتونو او ادارو ترمنځ همغږي، د پانګونې لپاره د مناسب چاپېريال او د چارو د ښه مديريت زمينې برابرول او په افغانستان کې د پانګونې پروژو په اړه پانګوالو ته د لازمو معلوماتو چمتو کول دي.

په ناسته کې تر هراړخيز بحث وروسته د کابل ښار په يوولسمه ناحيه کې د عامه-خصوصي مشارکت له لارې د جهان پارک د جوړولو طرحه په پرنسيپ کې تایید شوه او کابل ښاروالۍ ته دنده وسپارل شوه څو له قراردادي شرکت سره يوځل بيا د قرارداد د وخت او ځينو نورو اړينو مسايلو په اړه تخنيکي ناسته وکړي. د دغه طرحې له مخې خصوصي سکټور په ۱۵۰ جريبه ځمکه کې د ۹۶۰ ميليونه افغانيو په ارزښت پانګونه کوي، چې د عوايدو ۳۵ سلنه به کابل ښاروالۍ ته ورکوي. د دغه طرحې له مخې به ياد پارک د ۳ کلونو په موده کې بشپړ او له ښاري اصولو سره سم به ټول اړين سهولتونه ولري.

همدارنګه په دغه غونډه کې پرېکړه وشوه چې په کور دننه د مالګې د توليد، پروسس او د خپلې اړتيا د پوره کېدو په موخه دې د کانونو او پټروليم وزارت د مالګې د توليد او پروسس د کورنيو فابريکو لپاره په خامو موادو روياليټي راکمه کړي، د صنعت او سوداګرۍ وزارت دې د اړوندو ولايتونو په صنعتي پارکونو کې ځمکې ورکړي او په معيار د برابرو کورنيو توليدي فابريکو په ګډون دې د ټولو فابريکو هراړخيز ملاتړ وشي او هغه فابريکې چې په معيار برابرې نه دي، مکلفې دې کړل شي چې په لنډ وخت کې ځانونه په معيار برابر کړي څو هېواد د مالګې په برخه کې له کورنيو سرچينو خودکفايي ته ورسېږي. همدارنګه د خوړو او درملو ملي اداره مسئوليت لري چې بازار ته د بې کيفيته مالګې د وړاندې کېدلو په کلکه مخنيوی وکړي. همدا راز د ناستې په پای کې د اوبو او انرژۍ وزارت په مشرۍ تاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه څو د اوبو بندونو او سيندونو د بستر د حريم اړوندو ملکيتونو د تثبيت او خونديتوب لپاره يوه جامع طرحه جوړه او د اقتصادي کمېسيون راتلونکي مجلس ته يې وړاندې کړي.



# د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري
# د شاوخوا شپږ میلیارده افغانیو په ارزښت
# ۲۵ بېلابېلې پروژې منظورې شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو پروژو په اړه بحث وشو.

د ملي تدارکاتو کمېسیون یادې غونډې ته ۲۸ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې وې چې له جملې یې د ۲۵ پروژو قراردادونه منظور، د یوې لغوه او د دوو هغو د قراردادونو د بیا ارزونې سپارښتنه وشوه. منظور شوې پروژې د ریاست الوزراء د ساتنې لوی ریاست، د ملي دفاع، لوړو زده کړو، ټولګټو او د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارتونو، افغان ملي بانک او کابل ښاروالۍ اړوند دي، چې ټولیز ارزښت یې شاوخوا شپږ میلیاردو افغانیو ته رسېږي.

د غونډې په پای کې د منظور شوو پروژو له جملې د ځینو پروژو اړوندو سکټوري وزارتونو او ادارو ته لازمې سپارښتنې وشوې څو په راتلونکي کې په ټاکلي وخت خپلې پروژې د بحث او منظورۍ لپاره ملي تدارکاتو کمېسیون ته راولېږي او په دغه برخه کې ټول تدارکاتي پړاوونه ترسره کړي.





# د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري د شاوخوا ۷ میلیارده افغانیو په ارزښت ۲۵ بېلابېلې پروژې منظورې شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو پروژو په اړه بحث وشو.

د ملي تدارکاتو کمېسیون یادې غونډې ته ۲۷ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې وې چې له جملې یې د ۲۵ پروژو قراردادونه منظور او د دوه هغو لغوه شول. منظور شوې پروژې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، مالیې، لوړو زده کړو، اوبو او انرژۍ او د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت او کابل ښاروالۍ اړوند دي، چې ټولیز ارزښت یې شاوخوا ۷ میلیارده افغانیو ته رسېږي.

په یادو منظور شوو پروژو کې د پاشدان، شاه و عروس او کمال خان بندونو د پاتې چارو بشپړېدل، په کندهار، بلخ او بادغیس ولایتونو کې خلکو ته د څښاک اوبو رسول، په مختلفو ولایتونو کې هېوادوالو ته د هغوی د اړتیا وړ برېښنا چمتو کېدل، هېوادوالو ته د باکیفیته او چټکو انټرنیټي خدمتونو وړاندې کول او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې په پلې کېدو سره به یې زرګونو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي.



# د پروژو پرانیسته



## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د قوش‌تېپې کانال د لومړي فاز د ګټې اخيستنې او د دوهم فاز د چارو د پيل پرانيسته وکړه

په يادو مراسمو کې د رياست‌الوزراء پر اقتصادي مرستيال سربېره د رياست الوزراء اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي، د کورنيو چارو وزير خليفه صاحب سراج‌الدين حقاني، د ملي دفاع وزير مولوي محمد يعقوب مجاهد، د استخباراتو لوی رئيس محترم ملا عبدالحق وثيق، د کانونو او پټروليم وزير شيخ شهاب‌الدين دلاور، د ماليې وزير ملا محمد ناصر اخوند، د اقتصاد وزير قاري دين محمد حنيف، د اوبو او انرژۍ وزير ملا عبداللطيف منصور، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزير مولوي عطاءالله عمري، د لوړو زده‌کړو وزير شيخ ندا محمد نديم، د صنعت او سوداګرۍ وزير الحاج نورالدين عزيزي، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزير ملا حميدالله اخوندزاده، د بهرنيو چارو وزارت سياسي مرستيال الحاج شيرمحمد عباس ستانکزی، د چارو ادارې لوی رئيس شيخ نورالحق انور، د افغانستان بانک لومړی مرستيال نور احمد آغا، د رياست‌الوزراء د دفتر لوی رئيس محترم ډاکتر عبدالواسع، د بلخ والي الحاج محمد يوسف وفا، د ملي پراختيا شرکت رئيس محترم عبدالرحمن عطاش، د بلخ علماوو شورا رئيس او غړو، واليانو، علماوو، مشرانو، سپين‌ږيرو او ګڼ شمېر نورو امارتي مسوولينو ګډون کړی و.

محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وويل، د قوش‌تېپې کانال د افغانانو د لسيزو خوب تعبير دی، دا د هغوی د سترياوو او خولو پايله او د ځان بسيانې په لور د پورته کېدونکو ګامونو يوه بېلګه ده.

افغانستان په ډېرو برخو کې په وارداتو تکيه دی چې يوه برخه يې خوراکي توکي دي، په داسې حال کې چې افغانستان يو کرنيز هېواد دی او پرېمانه اوبه لري. اسلامي امارت د يو خودکفا افغانستان لپاره د اوبو مديريت او د کرنې ودې ته پوره پاملرنه کړې ده، چې د دغه کانال جوړېدل يې تر ټولو ښکاره مثال دی.

محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال

زیاته کړه، د دې کانال د پیل پر مهال له ما سره د بودیجې او په وخت یې د کارونو د بشپړولو په اړه اندېښنه وه، خو عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله له مالي اړخه پوره اطمینان راکړ او موږ یې هم د ملي پراختیا شرکت له ربښتینو او متعهدو کارکوونکو سره یوځای د جوړېدو په چارو پیل وکړ، چې دادی اوس یې الحمدلله لومړی فاز بشپړ شو.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، د دې کانال د جوړولو موخه چاته زیان رسول نه دي، بلکې یوازینۍ موخه یې د افغانستان سرلوړي، د افغانانو ځان بسیاینه او د افغانستان له طبیعي سرچینو په ښه ډول ګټه اخیستل دي.

هغه زیاته کړه، د ویاړ ځای دی چې له ځلوېښت کلن ناورین وروسته دومره ستره پروژه د افغانانو له لوري ډیزاین، پلې او ټول مصارف یې له ملي بودیجې تمویلېږي.

د غونډې په پای کې محترم ملا صاحب وویل، زه ټول افغان ولس، په پروژه کې زیارکښو انجنیرانو او په ځانګړي ډول د ملي پراختیا شرکت رئیس محترم عبدالرحمن عطاش ته د دغه کانال د لومړي فاز د بشپړېدو او د دوهم فاز د پیل مبارکي وایم. دا کانال د ټولو افغانانو ویاړ او افتخار دی او ټول به یې د بشپړولو لپاره کلک ملاتړ کوو.



الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

د قوش‌تېپې کانال د افغانانو د لسیزو خوب تعبیر دی، دا د هغوی د سترګو او خولو پایله او د ځان بسیاینې په لور د پورته کېدونکو ګامونو یوه بېلګه ده.

## موافقتنامه های تکمیل پروژه های

# لین ۵۰۰ کیلو ولت برق شبرغان -دشت الوان و انکشاف سب استیشن دشت الوان

## به امضاء رسید



در حضور محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست الوزراء، موافقتنامه‌ها میان شرکت برشنا و شرکت خصوصی افغان انویست برای تکمیل کار پروژه های باقی مانده لین ۵۰۰ کیلو ولت برق شبرغان – دشت الوان و همچنان انکشاف شبکه سب استیشن دشت الوان به امضا رسید.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء در مراسمی که به همین مناسبت برگزار گردیده بود، گفت: برای رشد اقتصادی، صنعت از همه مهمتر است، کشور هایی که جنگ را پشت سر گذشتانده و توسعه سریع اقتصادی داشته اند، عامل اساسی آن پیشرفت صنعت است. محترم ملا صاحب افزود که با رویکار آمدن امارت اسلامی، افغانستان در عرصه صنعت نیز پیشرفت چشمگیری داشته و همچنان در تلاش است تا تمامی شرایط و زمینه ها را برای توسعه صنعتی در کشور فراهم کند که مهمترین آن برق است.

محترم ملا صاحب در جریان سخنان خود افزود، این پروژه برق از شبرغان تا دشت الوان که با شرکت خصوصی افغان انویست قرارداد شده است، نه تنها اینکه به صنعت کشور نفع خواهد رسانید، بلکه با این، زمینه انتقال صدها میگاوات برق به افغانستان فراهم و سالانه میلیون ها دالر صرفه جویی خواهد شد. معاون اقتصادی ریاست الوزراء در خطاب به همه سرمایه‌گذاران ملی گفت: امارت اسلامی هر نوع فرصت‌های سرمایه گذاری را برای شما فراهم کرده است و از شما حمایت کامل می‌کند، اما به

گفته او باید وعده‌های خود را در عمل ثابت کنید. در پایان جلسه محترم ملا صاحب از شرکت قراردادی خواست تا این پروژه ها را با جدیت پیگیری و در اسرع وقت به اتمام برسانند.

قابل یاد آوری است که بر اساس این قرارداد، شرکت افغان انویست ۲۳,۷ فیصد کار باقیمانده لین برق ۵۰۰ کیلو ولت شبرغان-دشت الوان را که ۳۰۵,۱۷ کیلو متر طول دارد، به وقت معینه تکمیل می کند. قبل از این ۷٦,۳ فیصد کار لین مذکور انجام شده است. همچنان شرکت قراردادی مسولیت تکمیل کار های انکشافی باقیمانده ۵۰۰کیلو ولت سب استیشن دشت الوان را نیز بر عهده دارد. این پروژه از سوی شرکت قراردادی در ظرف دو سال تکمیل می گردد که مصرف مجموعی آن به ۳٦ میلیون دالر میرسد شرکت برشنا با در نظرداشت توافق به اساس معیار های نظارت و ارزیابی از تطبیق، امور تخنیکی و مالی پروژه مذکور نظارت دقیق و ارزیابی می کند. با تکمیل این پروژه، تسهیلات زیادی در بخش انتقال برق ارزان و با کیفیت از ترکمنستان به افغانستان فراهم می شود که مشکل کمبود برق در کشور را تا حدود زیادی حل می کند.



**«برای رشد اقتصادی، صنعت از همه مهمتر است، کشور هایی که جنگ را پشت سر گذشتانده و توسعه سریع اقتصادی داشته اند، عامل اساسی آن پیشرفت صنعت است. با رویکار آمدن امارت اسلامی، افغانستان در عرصه صنعت نیز پیشرفت چشمگیری داشته و همچنان در تلاش است تا تمامی شرایط و زمینه ها را برای توسعه صنعتی در کشور فراهم کند که مهمترین آن برق است.»**

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند

# امور احداث پروژۀ تولید ده میگاوات برق آفتابی را افتتاح کرد



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء امور احداث پروژۀ تولید ده میگاوات برق آفتابی را در نزدیکی بند نغلو ولسوالی سروبی افتتاح نمود.

در این مراسم علاوه از معاون اقتصادی ریاست الوزراء ملا عبداللطیف منصور سرپرست وزارت آب و انرژی و شماری دیگری از مسوولین امارتی نیز حضور داشتند.

محترم ملا صاحب در مراسمی که به همین مناسبت تدویر گردیده بود، حین سخنان خود گفت، افغانستان خانه مشترک همه افغان هاست، در این جا عزت شان محفوظ است و این جغرافیا سمبول شناخت و هویت شان می باشد. همین علت است که امارت اسلامی بالعکس سایر نظام های گذشته در خدمت مردم زجرکشیده و آبادانی کشور متعهد است.

محترم ملا صاحب افزود، امارت اسلامی این را درک نموده که به خاطر داشتن اقتصاد قوی برق برای صنعت و پیشرفت آن مهم و ضروری می باشد. امارت اسلامی جهت رسیدن به این هدف، تولید برق را در داخل کشور در اولویت های خود قرارداده و به تمامی سرمایه گذاران اذعان داشته، که در بخش تولید برق در داخل کشور سرمایه گذاری نمایند.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء علاوه نمود: "به ادامه همین تلاش‌ها اینک امروز شاهد آغاز تولید برق آفتابی به ظرفیت ده میگاوات می باشیم. با در نظرداشت نیاز دربخش تولید برق این پروژه کوچک به نظر می رسد، ولی برای من جهت رسیدن به خودکفایی بسیار مهم می باشد. این نشاندهندۀ آن است که ما در بخش رسیدن به خودکفایی به مقدار ده میگاوات برق از احتیاج دیگران رهایی میابیم."

در پایان مراسم محترم ملا عبدالغنی برادر آخند گفت که امارت اسلامی با در نظرداشت اهمیت برق مصمم است تا قرارداد تکمیل امور پروژه لین ۵۰۰ کیلو ولت که از ترکمنستان امتداد می یابد را در بدل یک معدن به شرکت افغان انویست بدهد، که با انجام آن زمینۀ انتقال صدها میگاوات برق به کشور فراهم خواهد شد و سالانه به ارزش ۲۰۰ میلیون دالر صرفه جوی می شود.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند یک بار دیگر در خطاب به سرمایه گذاران داخلی و خارجی گفت که در بازسازی افغانستان سهیم شوند و در این جا از فرصت های به وجود آمده استفاده نمایند.

پروژه تولید ده میگاوات برق آفتابی به حمایت امارت اسلامی از سوی سکتور خصوصی در ظرف یکسال با سرمایه گذاری حدود ۷۰۰ میلیون افغانی تکمیل می شود.

**افغانستان خانه مشترک همه افغان هاست، در این جا عزت شان محفوظ است و این جغرافیا سمبول شناخت و هویت شان می باشد.**



محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د نوي کابل د لومړي فاز د دوهم پارسل پروژې

## د جوړېدو چارو د پیل په پرانیستغونډه کې ګډون وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د نوي کابل د لومړي فاز د دوهم پارسل پروژې د جوړېدو چارو د پیل په پرانیستغونډه کې ګډون او وینا وکړه.

محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د اسلامي امارت مشران ژمن دي چې افغانستان له سیالانو سره سیال کړي او په دې لاره کې نه ستړې کېدونکې هڅې کوي، چې د دې پروژې پیل یې ښه بېلګه ده.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د نوي کابل پروژه د هېواد په کچه د خصوصي سکټور او اسلامي امارت تر منځ د مشارکت یوه ستره ملي پروژه ده، چې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې ښه زمینه برابروي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، د نوي کابل پروژه د ژوند کولو په ټولو سهولتونو برابره ده، چې په بشپړېدو سره به یې له اوسني کابل ښار څخه نوي کابل ته د نفوسو انتقال پیل، په اوسني ښار کې به ګڼه ګوڼه راکمه او د ترافیکي پېښو مخنیوی به وشي.

د نوي کابل پروژه د اوسني کابل ښار یو نیم برابر لویه ده، چې د ۳۷۰ زره جریبه مساحت په درلودو سره په څلورو فازونو کې ډیزاین شوې ده. د یادې پروژې د لومړي فاز چارې په ۵ پارسلونو کې په پام کې نیول شوې، چې د دوهم پارسل د جوړېدو چارو پرانیستنه یې وشوه. دغه پارسل په ۷۴۰ جریبه ځمکه کې ډیزاین شوی، چې ۱۲ زرو کسانو لپاره به پکې ۲۳۰۰ هستوګنیز کورونه جوړ شي.

د نوي کابل پروژې د لومړي فاز دوهم پارسل چارې د کور او ښار جوړولو وزارت تر نظارت لاندې د خصوصي ساختماني شرکت له لوري پر مخ وړل کېږي او زرګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابروي.



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري

# د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزاني نندارتون پرانیستل شو







په دغو مراسمو کې د ریاست‌الوزراء پر اقتصادي مرستیال سربېره د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزیر مولوي عطاءالله عمري، بهرنیو ډیپلوماتانو، ملي سوداګرو، بزګرانو او ګڼ شمېر ملکي مسوولینو حضور درلود.

محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، افغانستان یو کرنیز هېواد دی او د رسمي شمېرو له مخې، شاوخوا ٦٨ سلنه خلک یې پر کرنه او مالدارۍ مصروف دي، چې متاسفانه لا هم له پخواني سیستم څخه استفاده کوي او کوم د پام وړ پرمختګ یې نه دی کړی.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، چې زموږ بزګران پر کرنه سربېره د اوبولګونې پخوانی سیسټم استفاده کوي او همدا وجه ده چې له خپلې اړتیا د زیاتو اوبو په مصرفولو سره سره بیا هم د پام وړ کرنیز محصولات نشي ترلاسه کولی. د محترم ملا صاحب په خبره، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت مکلفیت لري چې د کرنې د میکانیزه کولو او د اوبولګونې د معاصرو سیسټمونو د عاملو او تطبیق په اړه بزګرانو ته ټولې اړینې اسانتیاوې رامنځته او په دغه برخه کې کوټلي ګامونه واخلي.

محترم ملا صاحب په کور دننه د کرنیزو محصولاتو د جذب او سالم مدیریت په اړه ټینګار وکړ او په دې اړه یې اړوند وزارتونه او اداري مکلفې وبللې، څو د کرنیزو محصولاتو د ښه جذب او په وخت تر مارکېټ پورې د رسولو په موخه د ترانسپورټ، سړو خونو، بسته بندۍ او په کور دننه او بهر کې ورته د بازارموندنې په اړه اړین سهولتونه رامنځته کړي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په ټولو هېوادوالو او په ځانګړې ډول حکومتي ادارو غږ وکړ چې د خپلو اړتیاوو پوره کولو پر مهال دې له کورنیو کرنیزو محصولاتو څخه استفاده وکړي.

د کرنیزو محصولاتو ۲۹م خزاني نندارتون د کابل په بادام باغ روزنیز او تولیدي فارم کې د کرنیزو محصولاتو د ملاتړ او په کور دننه او بهر کې ورته د بازارموندنې په موخه جوړ شوی، چې په سلګونو غرفو کې پکې بېلابېل کرنیز محصولات ننډارې ته وړاندې شوي وو.




# کنفرانسونه، لیدنې او

# سفرونه



د کانونو او پټرولیم وزارت او ګټونکو شرکتونو ترمنځ

# د ٦,٥ میلیارد ډالرو په پانګونې سره

# د ۷ لویو کانونو قراردادونه لاسلیک شول

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د کانونو او پټرولیم وزارت او ګټونکو شرکتونو ترمنځ د ٦,٥ میلیارد ډالرو په پانګونې سره د ۷ لویو کانونو قراردادونه لاسلیک شول.

په دغو قراردادونو کې د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د اوسپنې کان څلور بلاکونه شامل دي، چې وطن درخشان شرکت ته چې آذاران صنعتي سازه ایراني شرکت یې ونډوال دی د لومړي بلاک، ساحل شرق میانه شرکت ته چې دره نور افغاني او ایپکول ترکي شرکتونه یې ونډوال دي د دوهم بلاک، شمش ملي شرکت ته چې GBM او AD Resources انګلیستاني شرکتونه یې ونډوال دي د دریم بلاک، باختر فولاد شرکت ته چې احیای سپاهان او پارسیان ایراني شرکتونه یې ونډوال دي د څلورم بلاک، افغان انوېسټ شرکت ته د غور ولایت د تولک ولسوالۍ د سرپو او جستو کان د یو بلاک، چینا-افغانستان شرکت ته چې افغانستان زړور شرکت یې ونډوال دی د تخار ولایت د چاه آب ولسوالۍ د سمتي سرو زرو کان او توریا خصوصي شرکت ته د لوګر ولایت د دوهم مس عینک کان قراردادونه ورکړل شول.

د یادونې وړ ده چې د یادو ۷ قراردادونو د چارو ترسره کولو لپاره په مجموعي ډول ٦ میلیارده او ۵۵۷ میلیونه ډالره پانګونه کېږي، چې زرګونو کسانو ته به کاري زمینه مساعده او د هېواد په اقتصادي وضعیت کې به د پام وړ ښه والی راشي.






# له صنعت او صنعتکارانو څخه د ملاتړ په موخه

## په مرمرینه ماڼۍ کې ځانګړې غونډه ترسره شوه

د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د مالیې، کورنیو چارو، صنعت او سوداګرۍ او اقتصاد وزارتونو، د استخباراتو لوی ریاست او خصوصي سکتور په غړیتوب له صنعت او صنعتکارانو څخه د ملاتړ په موخه په مرمرینه ماڼۍ کې ځانګړې غونډه ترسره شوه.

په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د افغانستان د صنعت او معدن خونه به کورني تولیدات د رسمي لیک له لارې د تعرفې کمېټې ته ور معرفي کوي. د استخباراتو لوی ریاست، د خوړو او درملو او نورم او سټنډرډ ملي ادارو په غړیتوب به د تعرفې کمېټه د معرفي شویو کورنیو تولیداتو د کیفیت، کمیت او قیمت له تثبیت وروسته د ځان بسیاینې په اندازه پر دغو وارداتي اموالو تعرفه لوړوي او راپور به یې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت ته ورکوي.

همدارنګه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د ۱۴۴۴/۶/۹ نېټې د ۱۹مې ګڼې مصوبې مطابق ټولې امارتي ادارې دې د کورنیو تولیداتو او محصولاتو د ملاتړ په موخه په خپلو خریداریو او تدارکاتي پروسو کې کورنیو تولیداتو او محصولاتو ته لومړیتوب ورکړي، که څه هم کیفیت یې د بهرنیو تولیداتو او محصولاتو په پرتله له لس تر پنځلس سلنې ټیټ وي. په غونډه کې امارتي ادارې مکلفې وبلل شوې څو د ټولو کورنیو تولیداتو او محصولاتو لېستونه له ځان سره ولري او د دې لېستونو مطابق دې د تدارکاتو او خریداریو په وخت کې نرخونه اخلي.

په یاده غونډه کې همدا راز پرېکړه وشوه چې د صنعتکارانو او پانګوالو امنیتي ستونزو ته د رسېدنې او د مؤثرې همغږۍ د رامنځته کولو په موخه دې د کورنیو چارو، مالیې، صنعت او سوداګرۍ وزارتونه، د استخباراتو لوی ریاست او د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې او همدا راز د صنعت او معدن خونې خپل باصلاحیته استازي د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت ته په درېیو ورځو کې ور معرفي کړي.

دغه راز د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته دنده وسپارل شوه چې د سوداګریزو نومونو، مارکو او برانډونو او په هغو کې د جعل او تزویر د مخنیوي په اړه دې اسناد او وړاندیزونه د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت ته د نهایي تصمیم نیونې په موخه راولېږي.

د غونډې په پای کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ د تعرفې کمېټې ته دنده وسپارل شوه چې د استخباراتو لوی ریاست په غړیتوب دې د سوداګرۍ او پانګونې او صنعت او معدن خونو ترمنځ د انوایسونو د اجراء په تړاو موجوده ستونزه په هر اړخیز ډول وڅېړي او له خپلو نظرونو سره مل دې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت ته راولېږي.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند
# «د افغانستان سوداګریزو او اقتصادي اړیکو»
## کنفرانس کې ګډون وکړ

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان سوداګریزې خونې او د افغانستان سوداګرۍ شورا له لوري «د افغانستان سوداګریزې او اقتصادي اړیکې» تر سرلیک لاندې جوړ شوي کنفرانس کې ګډون او وینا وکړه.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په بهر کې مېشتو افغان او بهرنیو پانګوالو ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه، چې اوسمهال په افغانستان کې سرتاسري امنیت راغلی، د فساد پر وړاندې جدي مبارزه پیل شوې، د صادراتو ترڅنګ د وارداتو او ملي عوایدو کچه زیاته شوې، په کور دننه د خوراکي توکو په تولید کې زیاتوالی راغلی، د لویو پروژو چارې پیل شوې او همدارنګه صنعت، سوداګرۍ او ترانزیټ هم پرمختګ کړی.

محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال وویل چې اسلامي امارت د خصوصي سکټور د ملاتړ په موخه پر خامو موادو مالیه کمه کړې، صنعتي پارکونو پراختیا موندلې، د سوداګرۍ د پراختیا لپاره د لویو لارو بیارغونه پیل شوې او د اوسپنې پټلۍ له لارې له سیمې سره د افغانستان د نښلولو چارې هم جریان لري.

محترم ملا صاحب دغه کنفرانس ته وویل چې له طبیعي سرچینو بډایه هېواد، د پانګونې ملاتړې حکومت، ځوان، وړ او ارزانه کاري ځواک، د سیمه‌ییز اتصال له لارې نړیوالو بازارونو ته لاسرسی، د پانګونې لپاره پراخه چاپېریال او د پانګونې لپاره اسان قوانین هغه موضوعات دي چې په افغانستان کې یې د پانګونې لپاره زمینه برابره کړې ده.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته ډاډ ورکړ چې په افغانستان کې د پانګونې د زمینې په برابرېدو سره نه یوازې افغانانو، بلکې بهرنیو پانګوالو ته هم فرصت برابر شوی او دوی کولی شي دلته د برېښنا، کانونو، زراعت، ترانسپورت، زېربناوو، ټکنالوژۍ او روغتیا ترڅنګ په ګڼو نورو سکټورونو کې هم پانګونه وکړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د ټولو پانګوالو لپاره د پانګونې اسانه قوانین رامنځته کړي او پر دې سربېره یې افغانستان ته د دوی د راتلو او دلته په بېلابېلو برخو کې د پانګونې او په دولتي ادارو کې له سرګردانۍ د خلاصېدو په موخه یوه بین‌الوزارتي کمېټه جوړه کړې، چې پانګوالو ته به ټول اړین معلومات او سهولتونه برابروي.

محترم ملا صاحب نړیوال سیاست او حالاتو ته په اشارې سره وویل، چې د افغانستان په شاوخوا کې د سمندري سوداګریزو لارو امنیت ته په کتو د ځمکنیو لارو ارزښت ورځ تر بلې زیاتېږي، چې په دې سره به افغانستان د خپل جیوستراتیژیک موقعیت اهمیت په واقعي ډول پیدا کړي. په همدې موخه اسلامي امارت هڅه کوي چې د افغانستان سوداګریزې او ترانسپورتي لارې په اساسي ډول ورغوي او پر مټ یې له هغو ګاونډیو هېوادونو سره وصل شي، چې اوسمهال ورسره اتصال نه لري. اسلامي امارت هڅه کوي چې په ټول هېواد کې لویې لارې، سړکونه او د اوسپنې پټلۍ شبکې جوړې او پراخې کړي.

په پای کې یو ځل بیا محترم ملا صاحب ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت یې بشپړ ملاتړ کوي او په دغه برخه کې ټول اړین سهولتونه ورته برابروي.

په دغه کنفرانس کې پر افغان پانګوالو سربېره یوشمېر امریکایي او د ځینو نورو هېوادونو لسګونو پانګوالو هم ګډون کړی و، چې په افغانستان کې یې د راغلو عیني پرمختګونو ستاینه وکړه او په مختلفو برخو کې یې پانګونې ته لېوالتیا وښوده.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# د ایران له سفیر

## سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د ایران له سفیر حسن کاظمي قُمي سره وکتل.
په دغه لیدنه کې د ریاست‌الوزراء پر اقتصادي مرستیال سربېره د اقتصاد وزارت سرپرست قاري دین محمد حنیف او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست ملا خیرالله خیرخواه هم حضور درلود.
په لیدنه کې پر سیاسي او اقتصادي مسایلو او همدارنګه مختلفو برخو کې پر دوه اړخیزو همکاریو خبرې وشوې.
محترم ملا صاحب د دغه لیدنې پر مهال ایراني لوري ته وویل چې افغانستان د هېڅ هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي او نه بل چا ته دا حق ورکوي، چې زموږ په کورنیو چارو کې مداخله وکړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، له لسیزو جګړو وروسته په افغانستان کې خپلواک واحد نظام رامنځته شوی او د سیمې او په ځانګړي ډول له ګاونډیو هېوادونو سره سیاسي او اقتصادي اړیکې پراخې شوې دي. محترم ملا صاحب وویل پکار ده چې د یادو اړیکو د لا پیاوړي کېدو په موخه ایران او نور ګاونډي هېوادونه اساسي ګامونه واخلي او بل چا ته دا فرصت په لاس ور نه کړي، چې دغو اړیکو ته زیان ورسوي.
په کابل کې د ایران سفیر ښاغلي قُمي د خپلو خبرو پر مهال وویل، ایران د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان ښه ګاونډی پاتې شوی او د دواړو هېوادونو د سیاسي او اقتصادي ګټو د خوندي کولو لپاره یې هر وخت هڅې کړې دي.
ښاغلي قُمي زیاته کړه، تهران علاقمند دی چې له افغانستان سره پر اقتصادي، کرنیزو او صنعتي برخو سربېره د ریل پټلۍ شبکو غځولو کې هم همکاري وکړي. نوموړي وویل، په یادو برخو کې عملاً د دواړو هېوادونو تخنیکي ټیمونه پر مذاکراتو بوخت دي.





# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند جهت همدردی به زلزله زده گان به ولایت هرات سفر نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در رأس یک هیئت امارتی جهت همدردی به آسیب دیده گان زلزله اخیر و رساندن کمک های اضطراری به ولایت هرات سفر کرد.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند با رسیدن به ولایت هرات قبل از ظهر نخست با نماینده گان سکتور خصوصی، تاجران و صنعتکاران دیدار نمود و از کمک ها و مساعدت های آنها برای آسیب دیده گان ابراز تشکر نمود.

محترم ملا صاحب خواهان همکاری بیشتر آنها گردیده و افزود که در این وضعیت ناگوار به خاطر همکاری به آسیب دیده گان در داخل و خارج کشور کمک ها را جمع آوری نموده و به مردم مستحق برسانند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در جریان سفر خویش به ولایت هرات بعد از ظهر به ولسوالی زنده جان رفته و در آن جا از مناطق آسیب دیده در اثر زلزله اخیر دیدن نموده و برای شهروندان آسیب دیده تسلیت گفته و به آن ها مراتب همدردی خویش را اظهار داشت.

محترم ملا صاحب و هیئت همراه شان در جنازۀ شهدای زلزله اخیر اشتراک نموده و برای شهدا جنت الفردوس، برای بازمانده گان صبر جمیل و به مجروحین شفای عاجل استدعا نموده و در این حادثه غم انگیز خود را با مردم شریف ولایت هرات شریک دانست.

محترم ملا صاحب گفت که امارت اسلامی در کنار مردم آسیب دیده بوده و تا وقتی به همکاری و استعانت خویش ادامه خواهد داد تا اینکه منازل تخریب شده آن ها بازسازی گردد و به زنده گی عادی شان برگردند.

**امارت اسلامی در کنار مردم آسیب دیده بوده و تا وقتی به همکاری و استعانت خویش ادامه خواهد داد تا اینکه منازل تخریب شده آن ها بازسازی گردد و به زنده گی عادی شان برگردند.**

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء حین سفر خویش به ولایت هرات، جهت عیادت مجروحین به شفاخانه حوزوی هرات رفته و از نزدیک جویایی احوال آنها شد. محترم ملا صاحب برای زخمی ها اطمینان داد که به وجه احسن تداوی خواهند شد و به منظور معالجه درست به تمامی تیم های طبی هدایات لازم داده است.

**محترم ملا عبدالغنی برادر آخند هنگامی احوال پرسی و عیادت مجروحین و زلزله زده ها گفت که امارت اسلامی نظام مردم است و خدمت برای مردم را مسوولیت خود می دانند.**

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء حین سفر خویش به ولایت هرات در نشستی که در مقام آن ولایت تدویر گردیده بود، اشتراک و سخنرانی نمود.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء در این نشست گفت، امارت اسلامی افغانستان برای نجات هموطنان آسیب دیده از تمامی امکانات خویش استفاده نموده و همه وزارت خانه ها و ادارات ذیربط مصروف رساندن کمک های عاجل برای آن ها بوده و به شما اطمینان می دهم که در بدل منازل تخریب شده برای شما سرپناه های را به شکل اساسی و پخته اعمار خواهیم نمود. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند افزود، به همه مسوولین امارتی هدایت داده ام که کمک های جمع آوری شده را به طور شفاف بر هموطنان مستحق ما توزیع نمایند و در این بخش همچنان کمیسیون ایجاد گردیده است.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از تمامی شهروندانی که به حد توان برای زلزله زده ها کمک و مساعدت نموده اند، تشکر و امتنان نموده و یک بار دیگر از همه تاجران ملی، ثروتمندان، بنیاد های خیریه و مؤسسات خواست تا در این وضعیت دشوار با هموطنان زلزله زده کمک و مساعدت نمایند و زنده گی شان را نجات دهند.

همچنان محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از اداره ها و سازمان های جهانی کمک رسان خواستار آن شد تا با افغان های آسیب دیده ای ناشی از زلزله کمک های همه جانبه نمایند و در این حادثه دلخراش با کمک های خود از آن ها حمایت کنند.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء و هیئت همراه شان بعد از سفر یک روزه به کابل برگشتند.





به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء،

# نشستی مشترک در قصر مرمرین برگزار شد

به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء، نشستی مشترک میان وزارت خانه های سکتوری، ادارات و تاجران ملی در مورد کیفیت نفت و گاز و رسیده‌گی به مشکلات موجوده در این راستا در قصر مرمرین برگزار شد.

در آغاز جلسه محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در اشاره به فعالیت های تاجران گفت که تاجران افغان نقش ارزنده ای در پیشرفت اقتصادی کشور داشته و هنوز هم بیشتر از این به فعالیت های خود در این زمینه ادامه می دهند.

محترم ملا صاحب افزود، **از همه تجاران ملی می خواهم در کار خود صادق بوده و علاوه بر سایر محصولات، نفت و گاز با کیفیت را برای حفظ محیط زیست و صحت مردم وارد کنند.**

سپس تاجران ملی نفت و گاز از مسؤلین امارت اسلامی افغانستان بخاطر فراهم نمودن فضای امن تجارتی و حمایت همه جانبه از آنان ابراز تشکر نمودند. این تاجران ملی مشکلات مربوط به کنترول کیفیت نفت و گاز، مالیات، یوزرنیم شرکت ها، تصفیه خانه های نفت و گمرکات کشور را با محترم ملا عبدالغنی برادر آخند در میان گذاشتند. آنها در حصهٔ نفت و گازی که کیفیت آن کمی پایینتر می باشد، خواهان مراعات از سوی امارت اسلامی گردیدند. به گفته آنها اگر این کار انجام شود از یک سو به اندازه کافی نفت و گاز وارد کشور می شود و از سوی دیگر ضرری به تجار وارد نمی شود. در پایان این نشست، محترم ملا صاحب به تجاران ملی نفت و گاز اطمینان داد و به وزارتخانه ها و ادارات مربوطه امارتی برای یافتن راه حل های مناسب هدایت داد.





د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ

# لوړرتبه امارتي مسئولينو له ازبيکستاني پلاوي سره وکتل

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړرتبه امارتي مسوولينو د ازبيکستان د لومړي وزير د مرستيال محترم جمشيد خوجه ييوف په مشرۍ له راغلي ازبيک پلاوي سره چې د کرنې، انرژۍ، اوبو مديريت، کانونو او ترانسپورت وزيرانو په ګډون د بېلابېلو سکتورونو استازو پکې حضور درلود، د ارګ په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل. په دغه ليدنه کې دواړو لورو په سوداګريزو، ترانزيټي او اقتصادي اړيکو سربېره د اوسپنې پټلۍ، ترانسپورت، په افغانستان کې د کانونو فني استخراج، د اوبو مديريت، د کرنې پراختيا او همدارنګه په ازبيکستان کې افغان ځوانانو ته په بېلابېلو برخو کې د لوړو زده کړو زمينې برابرولو په اړه هراړخيز بحث وکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر مهال وويل، افغانستان او ازبيکستان د تاريخ په اوږدو کې دوه ښه ګاونډي هېوادونه پاتې شوي او هر وخت يې په امنيتي، سياسي او اقتصادي برخو کې له يو بل سره همکاري کړې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، د دواړو هېوادونو ترمنځ د لوړپوړو پلاوو تګ راتګ ښيي چې زموږ

> **اسلامي امارت د خپل اقتصاد محوره بهرني سياست پر بنسټ غواړي چې د سيمې په ترانزيټ کې مرستندوی رول ولوبوي او د دې موخې ترلاسه کولو لپاره مو د لويو لارو پر بيارغونې سربېره لازمې اسانتياوې برابرې کړې دي، چې دا به د سويلي او مرکزي آسيا هېوادونو په نښلولو کې ارزښتناک رول ولوبوي.**

دوه اړخيزې اړيکې د لا پراختيا په حال کې دي او په دې سره به وتوانېږو چې د سوداګرۍ او ترانزيټ په برخه کې ښه پرمختګونه ولرو. محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت د خپل اقتصاد محوره بهرني سياست پر بنسټ غواړي چې د سيمې په ترانزيټ کې مرستندوی رول ولوبوي او د دې موخې ترلاسه کولو لپاره يې د لويو لارو پر بيارغونې سربېره لازمې اسانتياوې برابرې کړې دي، چې دا به د سويلي او مرکزي آسيا هېوادونو په نښلولو کې ارزښتناک رول ولوبوي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، افغانستان د مرکزي آسيا هېوادونو سره د سوداګرۍ او ترانزيټ په موخه د ازبيکستان له مسيرونو څخه زياته استفاده کوي. په دې مسير کې د افغانستان پر محمولو باندې ترانزيټي فيس د نورو مسيرونو په مقايسه لوړ دی چې موږ يې د

کمېدو غوښتنه کوو. د محترم ملا صاحب په خبره، ددې لپاره چې افغانستان او ازبیکستان د سوداګرۍ متوازن بېلانس ولري ښه ده، چې ازبیکستان ته د افغانستان صادرات د پام وړ زیات شي او په دغه برخه کې ازبېکستان د افغانستان لپاره د ځانګړو ترجیحي تعرفو په نظر کې نیولو سره په ځینو مواردو کې له استثنایي دوستانه تعامل څخه کار واخلي. د ازبیک پلاوي مشر محترم جمشید خوجه ییوف د خپلو خبرو پر مهال وویل، ازبیکستان له افغانستان سره د کرنې، ترانسپورت، رېل پټلۍ، سوداګرۍ، ترانزیټ، اوبو مدیریت او کانونو په برخه کې ګډې همکارۍ ته چمتو دی او په دغه برخه کې به د دواړو لورو تخنیکي کمېټې په ګډه سره کار وکړي. محترم خوجه ییوف زیاته کړه، ازبیکستان ته د افغانستان د صادراتو د زیاتولو په اړه ازبیک لوري د سوداګرۍ لارې نقشه جوړه کړې چې له مخې به یې د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ کچه شاوخوا درېیو ملیاردو ډالر ته ورسېږي. نوموړي همدا راز وویل چې دوی افغان سوداګرو او موټر چلوونکو ته د وېزو په ترلاسه کولو کې لازمې اسانتیاوې رامنځته کړې، په نېږدې راتلونکي کې به تاشکند کې د افغاني محصولاتو نړېوال نندارتون جوړ کړي او همدارنګه چمتو دي چې په ترمذ کې افغان سوداګرو ته د سوداګرۍ یو لوی مرکز هم وسپاري. د غونډې په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هرات له زلزله ځپلو سره د ازبیکستان د بشري مرستو مننه وکړه او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د دوه اړخیزو همکاریو پر زیاتوالي ټینګار وکړ.











# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند
# از امور بازسازی شاهراه سالنگ ها دیدن نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء از امور بازسازی شاهراه سالنگ ها دیدن نمود. در این سفر محترم ملا محمد عیسی ثانی سرپرست وزارت فواید عامه، محترم ملا صاحب را نیز همراهی می نمود. محترم ملا صاحب با مسؤلین شرکت های قراردادی شاهراه سالنگ ها دیدار نمود و از امور انجام شده در این شاهراه تحسین کرد. همچنان محترم ملا عبدالغنی برادر آخند پیرامون تسریع امور باقیماندهٔ شاهراه سالنگ ها، کیفیت خوب و تکمیل آن به وقت معینه برای مسؤلین هدایات لازم داد. شاهراه سالنگ ها یک راهٔ مهم تجارتی- ترانزیتی افغانستان است، که اکنون امور ترمیم اساسی ۸۰ کیلو متر سرک و بازسازی آن با دو شرکت مختلف ساختمانی و سرک‌سازی قرارداد گردیده که در حال حاضر کار قسمت داخلی تونل و گالری ها تکمیل گردیده و قرار است در آیندهٔ نزدیک امور باقیماندهٔ آن نیز تکمیل گردد و یک بخش این پروژه بزرگ به بهره برداری سپرده شود. با بازسازی شاهراهٔ سالنگ ها در تجارت افغانستان و از مسیر افغانستان در سطح ترانزیت از آسیای مرکزی به آسیای جنوبی افزایش چشمگیری به وجود میاید و سهولت های لازم برای مسافرین فراهم می شود.





# ایران ته

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ

## د لوړ رتبه امارتي پلاوي سفر





## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل رسمي سفر په ترځ کې

# د ایران د ولسمشر له مرستیال ښاغلي محمد مخبر سره وکتل

په دې کتنه کې دواړو لوريو د افغانستان او ايران ترمنځ د سياسي- اقتصادي تعامل پر پياوړتيا، د سيمې او نړۍ پر سياسي وضعيت او همدارنگه په فلسطين کې د اسرائيلو د ظالم رژيم له لوري د ترسره شوو جنايتونو په اړه بحث او خبرې وکړې.

د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال د خپلو خبرو پر مهال وويل، د شل کلن امريکايي اشغال له پای ته رسېدو وروسته افغانستان په خپلو ټولو چارو کې خپلواک دی او د خپلو اسلامي او ملي ارزښتونو په پام کې نيولو سره له گاونډيو، سيمې او نړۍ هېوادونو سره تعامل ته را وړاندې شوی دی. د محترم ملا صاحب په خبره، اوسمهال په افغانستان کې په بشپړه توگه سياسي، امنيتي او اقتصادي ثبات رامنځته شوی او يو باثباته افغانستان د گاونډيو، سيمې او نړۍ هېوادونو په گټه دی. د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال د خپلو خبرو پر مهال وويل، د افغانستان اسلامي امارت د خپل اقتصاد محوره بهرني سياست پر بنسټ غواړي چې له ايران اسلامي جمهوريت سره خپلې سياسي، اقتصادي، ترانزيټي او سوداگريزې اړيکې پراخې کړي.

د ايران د ولسمشر مرستيال ښاغلي محمد مخبر د خپلو خبرو پر مهال وويل، ايران له افغانستان سره د خپلو اړيکو پراخولو ته لېواله دی او غواړي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سياسي، اقتصادي، سوداگريزو او ترانزيټي اړيکو د پراخولو او د دواړو ملتونو د هوساينې لپاره په مشترکه پلان جوړکړي. ښاغلي محمد مخبر زياته کړه، دواړه هېوادونه بايد په گډه د شوو معاهداتو تطبيق ته ژمن و اوسي، د چاپېريال ساتنې او په ځانگړي ډول د وچکالۍ او اوبو مديريت په اړه يو ځای کار وکړي.

د ايران د ولسمشر مرستيال د رياست الوزراء له اقتصادي مرستيال سره په ليدنه کې وويل، ايران چمتو دی چې له چابهار بندر څخه د افغانستان په صادراتو او وارداتو کې د پام وړ زياتوالی راشي. نوموړي همدا راز وويل، ايران تيار دی چې د کرنې او صنعت په برخه کې له پرمختللې ټکنالوژۍ د استفادې په برخه کې له افغانستان سره پوره همکاري وکړي. ايراني لوري ټينگار وکړ، دواړه هېوادونه بايد د سوداگرۍ پر مهال له خپلو ملي اسعارو استفاده وکړي او د سوداگرۍ او ترانزيټ کچې د زياتولو په موخه اړينه ده چې لويې لارې او سړکونه په اساسي ډول جوړ شي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په ايران کې د مېشت افغان کډوالو د کوربه‌توب له امله له ايران لوري څخه مننه وکړه او هلته يې له افغان کډوالو سره د ښه چلند او د هغوی ستونزو ته د رسېدو غوښتنه وکړه.

د دغه ليدنې پر مهال دواړو لورو په فلسطين کې د اسرائيلو ظالم رژيم له لوري ترسره شوي جنايتونه په کلکه وغندل او له اسلامي نړۍ يې غوښتنه وکړه څو د دغه وحشت په اړه نور پټه خوله پاتې نشي.

# معاون اقتصادي رياست الوزراء
# با وزیر زراعت ایران ملاقات نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند و هیئت همراه شان در سفر به جمهوری اسلامی ایران با محترم محمد علی نیکبخت وزیر زراعت آن کشور دیدار نمود.

محترم ملا صاحب در این نشست حین سخنان خود گفت که افغانستان و ایران در طول تاریخ روابط سیاسی، اقتصادی و تجارتی خوبی داشته اند و اکنون زمینۀ خوبی برای توسعه این روابط فراهم گردیده و نیاز است تا هر دو کشور برای تقویت هرچه بیشتر آن تلاش مشترک نمایند.

در این دیدار مقامات بلند پایه دو کشور در مورد میکانیزه شدن زراعت در افغانستان، کمک در زمینه کشت بدیل خشخاش، افزایش سرمایه گذاری در توسعه محصولات اساسی زراعتی و کشت درختان میوه دار، همچنان ظرفیت سازی افغان ها در بخش زراعت، آبیاری و مالداری، به راه اندازی نمایشگاه ها به منظور بازاریابی برای محصولات زراعتی میان دو کشور، افزایش سرمایه گذاری سرمایه گذاران ایران در بخش زراعت، همکاری در بخش واردات و صادرات محصولات زراعتی بین دو کشور، کاهش تعرفه بر محصولات افغانی، همکاری در حصه انتقال محصولات زراعتی افغانستان به کشور های مختلف از مسیر ایران و انکشاف همکاری های اقتصادی و تجارتی میان دو کشور صحبت های همه جانبه نمودند.

محترم محمد علی نیکبخت وزیر زراعت جمهوری اسلامی ایران و مسئولین همراه شان به هیئت افغانستان به ریاست ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء از همکاری همه جانبه در مورد مسایل مطرح شده بین دو کشور اطمینان دادند و افزودند، در این راستا ادارات ذیربط دو کشور با یکدیگر همکاری خواهند نمود.




**افغانستان و ایران** در طول تاریخ روابط سیاسی، اقتصادی و تجارتی خوبی داشته اند و اکنون زمینۀ خوبی برای توسعه این روابط فراهم گردیده و نیاز است تا هر دو کشور برای تقویت هرچه بیشتر آن تلاش مشترک نمایند.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او مل پلاوي د ایران د بهرنیو چارو وزیر

# حسـیـن امـیـر عبداللهیـان سـره وکـتـل

د افغانســتان اســلامي امارت د ریاســت الــوزراء اقتصــادي مرســتیال محترم ملا عبدالغنــي بــرادر اخوند او مــل پلاوي د ایران اســلامي جمهوریــت د بهرنیو چارو وزیر حسین امیر عبداللهیان او مل پلاوي سره وکتل. په دې کتنه کې دواړو لوریو په ســیاسي، اقتصادي، تعلیمي، کلتوري او نورو برخو کې د ګډو همکاریو په اړه بحث او خبرې وکړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســتیال د خپلــو خبرو پر مهــال وویل، افغانســتان او ایران د تاریخ په اوږدو کې دوه دوســت او ګاونــډي هېوادونــه پاتې شــوي چې یو له بل سره ښــې ســیاسي، اقتصادي او کلتوري اړیکې لري او پکار ده چې د یادو اړیکو د پراختیا او پیاوړتیا لپاره پــه ګډه کار وشي. محــترم ملا عبدالغني برادر اخوند په دې لیدنه کې له ایران سره د ســوداګریزو اړیکــو او ترانزیــټ پــر پراخــوالي، د دواړو هېوادونــو ترمنــځ پــه مختلفو سکټورونو کې د ګډ کار په موخه د تخنیکــي کمېټو پــر جوړېــدو، د ایران له لارې د ســیمې او نړۍ له هېوادونو سره د افغانســتان د ســوداګرۍ پر زیاتوالي، په افغانســتان کــې د ایــراني پانګوالــو پــر پانګونــې، افغانانو ته د وېــزو د ورکړې په برخــه کې د لازمو آســانتیاوو پر برابرولو او همدارنګه پــه ایران کې د مېشــت افغان کډوالو ستونزو ته د رسېدو او له هغوی سره د ښه چلند کولو په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې. محترم مــلا صاحب زیاته کړه چې افغانســتان غواړي د ایران له لارې افغاني صــادرات او واردات زیات کړي، په همدې موخــه له ایران اســلامي جمهوریت څخه غــواړي چې په دې اړه لازمې اســانتیاوې رامنځته کړي. ورپســې د ایران اســلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر حسین امیر عبداللهیــان د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال تــه د دواړو هېوادونــو ترمنځ د سوداګرۍ د پراختیا، د وارداتو او صادراتو په برخه کې د ســهولتونو راوستلو، د دواړو هېوادونو ترمنځ په مختلفو سکټورونو کې د ګــډ کار په موخه د کمېټــو د جوړېدو، په ایــران کې د افغــان کډوالو ســتونزو ته د رســېدو او پــه افغانســتان کــې د ایراني پانګوالو له لوري د پانګونې د هڅونې ډاډ ورکــړ او زیاتــه یې کړه چې پــه دې اړه به اړوندې ادارې په ګډه کار وکړي. همداراز په ناسته کې د واخان دهلېز پر جوړولو او له دې لارې څخه پر استفادې دواړو لوریو ټینګار وکړ او زیاته یــې کړه چې دا لاره د دواړو هېوادونــو په ګټه ده او توافق وشــو چــې لــه دواړو لوریــو څخــه د دې کار د چټکتیا او ښــې همغږۍ لپاره مشــترکې کمېټې جوړې شي.





### محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایران د ملي امنیت عالي شورا له رئیس

## علـي اکبـر احمـدیـان سـره وکـتـل

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل سـفر پر مهال د دغه هېواد د ملي امنیت عالي شـورا لـه رئیس علي اکبر احمدیان سره وکتل. د دغه لیدنې پـر مهـال دواړو لـورو پر سـیاسي او اقتصادي اړیکو سربېره د دواړو هېوادونو ترمنځ په سرحد کې پر ښې همغږۍ، د اوبو مدیریت، ترانزیټ او د ایران له لارې د افغانســتان د صادراتــو او وارداتو د زیاتوالي په اړه بحث او خبرې وکړې. د محترم ملا صاحب په خبره، افغانستان او ایران خپل ستراتیژیک موقعیت ته په کتو سره دوه ښــه اقتصــادي شریکان جوړېــدای شي او اړتیــا ده چې د دغه موخې ترلاســه کولو لپــاره دوه اړخیزې همکارۍ لا زیاتې او تخنیکي ټیمونه په ګډه کار وکړي. د ایــران د ملي امنیت عالي شــورا رئیس ښــاغلي احمدیان د خپلــو خبرو پر مهــال د دواړو هېوادونو ترمنــځ په بېلابېلــو برخو کــې د ګډو همکاریو پر زیاتوالي ټینګار وکړ.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایران د کورنیو چارو له وزیر سره وکتل

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل رســمي ســفر په ترڅ کې د یاد هیــواد د کورنیو چــارو له وزیــر احمد وحیدي سره وکتل.

دغه لیدنه د ایران د کورنیو چارو په وزارت کې ترسره شوه او له محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره د اسلامي امارت یوشمېر وزیرانو او د وزارتونو باصلاحیته استازو هم ګــډون درلود. د غونډې پــه پیل کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایران دولت له همکاریو څخه مننه وکړه او ویې ویل، چې د ایران دولت تل په سختو شرایطو او حالاتو کې د افغانانو لاســنیوی کړی او همدا اوس هم زمونــږ د میلیونونو افغان کډوالو کوربه دی. محــترم ملا صاحب همدا راز د خپلو خبرو په دوام وویل، نن ښه فرصت برابر شــوی څو دواړه دوست هیوادونه په اقتصــادي او امنیتي برخو کې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي، څکه یــو باثباتــه او پرمختللی افغانســتان د سیمې او نړۍ په ګټه دی. د دغه لیدنې پــر مهــال د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ایراني لوري وغوښتل څو په دغه هېواد کې د بېلابېلو سیکو جرمونو په تور افغــان بندیان خوشــې او پاتې نور افغان حکومت ته وســپاري. دغه بندیان بــه د بند پاتــې وخت د افغانســتان په زندانونــو کې تېــر کړي. محــترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند د خپلو خبرو په



دوام زیاته کړه، اسلامي امارت د افغانستان د اقتصادي وضعیت د ښه والي لپاره هڅه کوي څو افغانان په خپل هیواد کې با عزته ژوند ولري او په خپل هیواد کې د خپلو هیوادوالو د خدمت جوګه شي. محترم ملا صاحب د یادې لیدنې پر مهال له مخدره توکو سره مبارزه د افغانستان اسلامي امارت لومړیتوب وباله او زیاته یې کړه، چې اوسمهال په افغانستان کې د نشه‌یي توکو کښت او قاچاق صفر ته راټیټ شوی. د دغه لیدنې پر مهال د ایران د کورنیو چارو وزیر ښاغلي احمد وحیدي افغان پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه، چې نن تر ټولو ښه فرصت برابر شوی څو ایران او افغانستان په اقتصادي، سوداګریزو او نورو برخو کې له شته فرصتونو په ښه توګه استفاده وکړي. د نوموړي په خبره، ایران له خپلې خاورې د افغاني محصولاتو ترانزیټ ته لومړیتوب ورکوي، څو د افغانستان په صادراتو کې زیاتوالی راشي. ښاغلي وحیدي همدارنګه د افغاني محصولاتو لپاره ایران د یو نږدې او ښه مارکېټ په توګه یاد کړ او زیاته یې کړه، چې افغان لوری دې خپل محصولات له ایران سره په دغه هېواد کې د بازارموندنې په موخه شریک کړي، څو په ایران کې ورته د خرڅلاو ښه فرصتونه برابر شي. د ایران د کورنیو چارو وزیر ښاغلي وحیدي همداشان په ایران کې د افغان کډوالو مېشت کېدل د ایران لپاره یو ښه کاري فرصت یاد کړ او زیاته یې کړه، چې د افغان کډوالو د لا ښه انسجام او د هغوی ستونزو ته د رسېدو په موخه دې د دواړو هېوادونو له لوري یوه مشترکه کمېټه جوړه شي. ښاغلي وحیدي د خپلو خبرو په دوام وویل، د سرحداتو پیاوړتیا، د دواړو هیوادونو ترمنځ مشترک بازار، د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه، د سرحدي پوستو پیاوړتیا، د سوداګرۍ او ترانزیټ پراختیا او په سرحدي سیمو کې د دواړو هیوادونو د وګړو د ژوند ښه والی د ایران لومړیتوب دی او ټینګار یې دا دی چې په یادو برخو کې د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه پرله‌پسې او مؤثرې هڅې وکړي. د دې ناستې په ترځ کې همداشان له چابهار څخه تر نیمروز، هلمند او کندهار پورې د رېل پټلۍ پر جوړېدو، افغان محصلینو ته د زده کړو د ښه فرصت پر ایجاد، د افغانستان له لارې له چین سره د ایران اتصال او د افغانستان له لارې ازبکستان د ایران په واسطه له عمان بحیرې سره نښلول هغه موضوعات وو، چې په دغه غونډه کې پرې بحث وشو. ایراني لوري د افغانستان له لارې له چین سره پر وصلېدلو ټینګار وکړ او دا چاره یې د دواړو هېوادونو په ګټه یاده کړه. ملا صاحب هم دې موضوع ته د اهمیت ورکولو او د کار ګړندي کولو ډاډ ورکړ.





## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په ایران کې د مېشتو افغان پانګوالو له لوري په جوړ شوي کنفرانس کې ګډون او وینا وکړه

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل سفر په ترځ کې په دغه هېواد کې د مېشتو افغان پانګوالو له لوري په جوړ شوي کنفرانس کې ګډون او وینا وکړه.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د خپلو خبرو پر مهال وویل، په تېرو شلو کلونو کې د افغانانو او په ځانګړي ډول ملي سوداګرو او پانګوالو د سر او مال امنیت خوندي نه و، خو له نېکه‌مرغه د اسلامي امارت په راتګ سره یې امنیت خوندي شوی او اوس په ډاډمنه فضا کې خپل کاروبار کوي. د محترم ملا صاحب په خبره، د اسلامي امارت په راتګ سره اقتصادي وضعیت چې له جدي ګواښ سره مخ و، اوس یې د ثبات پر مسیر ګامونه اخیستي، د هېواد د زېربنا رغولو په موخه د لویو پروژو چارې پیل شوې دي، صادراتو وده کړې، د اسانه پانګونې او مثمرې سوداګرۍ لپاره سیستم له فساد او بیروکراسۍ څخه پاک شوی او په هېواد کې د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره شوې ده. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په ایران کې د مېشت افغان پانګوالو له لوري جوړ شوي کنفرانس ته وویل، اوسمهال په افغانستان کې د صنعت لپاره د اړتیا وړ برېښنا برابره شوې او د لا وسعت لپاره یې د برېښنا د تولید او برېښنا د هغو تولیدي پروژو د بشپړولو هڅې روانې دي چې چارې یې نه دي بشپړې شوې. همداراز صنعتي پارکونو پراختیا موندلې، پر خامو موادو مالیه کمه شوې، د سوداګرۍ د پراختیا په موخه د لویو لارو بیارغونه پیل شوې ده چې ښه بېلګه یې د کابل- کندهار او سالنګونو لویې لارې او د رېل پټلۍ د شبکې جوړولو اړوند نورې پروژې دي. ددې لارو په رغولو سره به سوداګري وده وکړي او له مرکزي آسیا څخه سویلي آسیا ته د اموالو په انتقال او ترانزیټ کې به هم ګڼې اسانتیاوې رامنځته شي. د کورنیو تولیداتو څخه د ملاتړ په موخه پر هغو وارداتو مالیه لوړه

شوې چې موږ يې په هېواد کې توليد لرو او پـه کور دننه او بهـر د افغاني توليداتو لپاره نندارتونونه جوړ شوي دي.
د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د خپلو خبرو پر مهال وويل، په افغانسـتان کې د سرتـاسري امنيت په راتلـو سره نه يوازې افغانانـو، بلکې بهرنيـو پانگوالو ته هم د پانگونې زمينه برابره شوې، چې ښه بېلگه يې له افغان پانگوالو سره په گډه د ترکي، ايراني، عربي، برېتانوي او نورو شرکتونو له لـوري د مختلفـو کانونـو د اسـتخراج قراردادونه ترلاسـه کـول او پانگونه ده.
محترم مـلا صاحب زياته کړه، د دې لپاره چې پانگوال په دولتي ادارو کې سرگردان او له بيروکراسۍ سره مخ نه شي، د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت تر چتر لاندې له ټولو وزارتونـو او ادارو څخه جوړه يوه قوي کمېټه رامنځته شوې، څو په يو وخت کې په ټولـو ادارو کې د پانگوالـو کارونو ته رسـېدنه وشي او په سرعت سره يې چارې پر مـخ ولاړې شي. د اسـلامي امارت په راتـگ سره پـه هېـواد کـې د امنيتي تهديداتو، اداري فسـاد، د نشه‌يي توکو د کښـت او قاچاق پر وړاندې جدي گامونه اخيستل شـوي او د کوکنارو د کښت پر ځای غنمو، پنبـې او د نورو زراعتي توکو کښـت ته لومړيتوب ورکړل شـوی دی.
محترم ملا صاحب زياته کـړه، د لومړنيو خوراکي توکو او په ښـه کيفيت د درملو توليد، انرژۍ، کانونو، زراعت، ترانسپورټ، زېربناوو، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ، روغتيـا او نورو برخو کـې پانگونه د دې هېواد اړتيـا ده، چې شـتمن وروڼه بايد لومړيتـوب ورکـړي. د رياسـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، افغانستان له سـمتي، قومي او ژبني تعصب پرته د ټولو افغانانو گډکور دی او ټول يې د آبادولو مسـؤليت لري، راځئ دا کور په گډه جوړ کـړو او ولس مو له ناوريـن او د پرديو له احتياجه خلاص کړو. په ايران او نوره نړۍ کې پر مېشـتو ټولو افغان کادرونو، ملي سوداگرو، صنعتکارانو او پانگوالو غږ کوم، چې راشي، د هېواد په بېلا بېلو برخو لکه کانونو، زراعت، برېښـنا توليـد، بندونو جوړولو، ترانسپورت، صنعت او دې ته ورته نورو برخو کې پانگونه وکـړي او له خپلو هېوادوالو سره يوځـای د هېواد د آبادۍ لپاره کار وکړي. موږ به خپل هېواد په خپله جوړوو او دا د شـکر ځـای دی چې الله تعالی د سـيمې په کچه يـو غني هېواد راکړی دی. زه يوځل بيا پر تاسې او د نړۍ په نـورو هېوادونو کې پر مېشـت افغان پانگوالو غږ کوم چې راشئ په خپل وطن کې پانگونه وکړئ، ځکه دا وطن پر تاسې حق لري، د دغه وطن په غېږه کې رالوی شوي ياست، له پاکو اوبو او ښکلې هوا مو يې اسـتفاده کـړې ده، اوس دا خاوره پر تاسې حق لري چې له ۴۰ کلونو کړاوونو او جنگونو وروسـته يې له اوسـني راغلي فرصت څخه په استفادې خپله شتمني په ابادولو کې مصرف کړئ.
د رياسـت‌الوزراء اقتصادي مرسـتيال د غونډې په پای کـې وويل، عزت او ابرو په خپل کور کې وي، دا نن چې په پاکستان کې له افغان کډوالو سره څه روان دي موږ او تاسې يې ټول شاهدان يو، له خپل کور د باندې تل انسـان پردی وي، ښه به وي چې له خپلو کورنيو او اولادونو سره په عزت او ابرو خپل هېواد ته راستانه شئ. اسلامي امارت او نور ټول افغانان هغو وروڼو ته چې د کډوالۍ اوږده مسـافري او فراق يې تېر کړي دي، هرکلی وايـي او تر خپل توان پورې يې ملاتړ کوي.

> «افغانستان له سـمتي، قومي او ژبني تعصب پرته د ټولو افغانانو گډ کور دی او ټول يې د آبادولو مسؤليت لري، راځئ دا کور په گډه جوړ کړو او ولس مو له ناورين او د پرديو له احتياجه خلاص کړو.»





## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په ایران کې د افغانستان سفارت له مسوولینو سره وکتل

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل رسمي سفر په ترځ کې په یاد هیواد کې د افغانستان اسلامي امارت د سفارت له مسوولینو سره وکتل.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په تهران کې د افغانستان له سفارت څخه د لیدنې پر مهال وویل، د تېرو ۴۰ کلونو پر مهال افغانان په بهرنیو هېوادونو کې له ډېرو ستونزو سره مخ وو، ژوند یې سخت او ستونزو ته یې په وخت او ښه ډول رسېدنه نه کېده، خو نن الحمدلله په افغانستان کې یو داسې نظام واک ته رسېدلی چې هغه په رښتینې مانا د دغه ولس خدمت کوي او په دغه برخه کې خپلو مسوولیتونو ته په ښه ډول متوجې دی. محترم ملا صاحب د خپلو خبرو پر مهال زیاته کړه: «د افغان ولس هوساینه او رضایت زموږ یوازینۍ هیله ده او تاسې هر مسوول کس باید نهایي کوښښ وکړئ څو د هېوادوالو ستونزو ته په وخت او ښه ډول رسېدنه وکړئ.» د محترم ملا صاحب په خبره، افغانستان هغه وخت په پښو درېدلی شي چې حکومت د ملت خدمت وکړي او ملت له حکومت سره اوږه په اوږه په ټولو چارو کې همکاري وکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند همدا راز د سفارت ټولو مسوولینو ته لارښوونه وکړه، څو افغان محصلینو ته په ایران کې د لوړو زده کړو زمینه برابره کړي او په دغه برخه کې ټولې شته ستونزې حل کړي. د دغه لیدنې پر مهال په تهران کې د افغانستان سفارت مسوولینو د سفارت د فعالیتونو په اړه محترم ملا صاحب ته خپل راپور وړاندې کړ او ویې ویل، چې د اسلامي امارت په راتګ سره په ایران کې د مېشت افغان کډوالو او کارګرانو ستونزې تر ډېره حده حل شوې او هڅوی ته د لازمو سهولتونو برابرولو په اړه یې له ایراني مقاماتو سره په وار وار مجلسونه کړي، چې ښه پایله یې ورکړې ده. د سفارت مسوولینو زیاته کړه چې د اسلامي امارت په راتګ سره په تهران کې د افغانستان د سفارت په چارو کې هر ډول فساد ختم شوی او الحمدلله اوس یې د تېرو کلونو په پرتله په عوایدو کې څو برابره زیاتوالی راغلی دی.

> «د افغان ولس هوساینه او رضایت زموږ یوازینۍ هیله ده او تاسې هر مسوول کس باید نهایي کوښښ وکړئ څو د هېوادوالو ستونزو ته په وخت او ښه ډول رسېدنه وکړئ.»
>
> محترم ملا عبدالغني برادر اخوند






### د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال

# د ایران د ټکنالوژۍ او تخنیک له نندارتون څخه لیدنه وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ایران اسلامي جمهوریت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د یاد هېواد د ټکنالوژۍ او تخنیک له نندارتون څخه لیدنه وکړه.

په دغه نندارتون کې د ریاست‌الوزراء پر اقتصادي مرستیال سربېره د ټکنالوژۍ او تخنیک په برخه کې د ایران د ولسمشر مرستیال روح الله دهقاني فیروز آبادي او له دواړو لورو یوشمېر نورو مسوولینو هم ګډون کړی و. محترم ملا صاحب له نندارتون څخه د لیدنې پر مهال وویل، ایران د افغانستان یو ښه ګاونډی پاتې شوی او د تاریخ په اوږدو کې یې په بېلابېلو برخو کې له افغانانو سره همکاري کړې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، ایران د نورو برخو ترڅنګ په سختو شرایطو کې د ټکنالوژۍ په برخه کې ډېر پرمختګ کړی او دوی له ایران اسلامي جمهوریت څخه غواړي چې د ټکنالوژۍ او تخنیک په برخه کې افغان محصلینو او زده کوونکو ته د زده کړو فرصتونه برابر کړي، څو په دغه برخه کې شته ستونزې حل شي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، افغانستان په کور دننه د تخنیکي زده کړو ښه ظرفیت او امکانات درلودل، چې له بده مرغه څلوېښت کلنې جګړې پر نورو برخو سربېره له افغانانو دا فرصت هم واخیست. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اوسمهال په افغانستان کې د زده کړو ښه زمینه برابره شوې او د اسلامي امارت مسوولین هڅه کوي چې افغان ځوانانو ته د نورو برخو ترڅنګ د ټکنالوژۍ او تخنیک په برخه کې هم د زده کړو او پرمختګ زمینه برابره کړي.

له دغه نندارتون څخه د لیدنې پر مهال د ټکنالوژۍ او تخنیک په برخه کې د ایران د ولسمشر مرستیال روح الله دهقاني فیروز آبادي د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ته ډاډ ورکړ، چې ایران له افغانستان سره د ټکنالوژۍ او تخنیک په برخه کې پوره همکارۍ ته چمتو دی.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# له چابهار بندر څخه لیدنه وکړه

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې له چابهار بندر څخه لیدنه وکړه. محترم ملا صاحب د دغه لیدنې پر مهال د چابهار بندر له مسوولینو سره وکتل او د دغه بندر له لارې یې د افغانستان د صادراتو او وارداتو پر زیاتوالي ټینگار وکړ. د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال له ایراني لوري وغوښتل چې چابهار بندر ته د افغانستان لاسرسی اسانه کړي څو له دې لارې وکولای شي خپل صادرات د نړۍ بازارونو ته ورسوي.

ایراني لوري په چابهار بندر کې د افغانستان لپاره د لازمو اسانتیاوو رامنځته کولو او همدارنگه د دغه بندر له لارې د افغانستان د سوداگرۍ د زیاتېدو په اړه محترم ملا صاحب ته ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه، چې په دې اړه به د دواړو هېوادونو تخنیکي ټیمونه په گډه کار وکړي. له چابهار بندر سره د نښلېدو په صورت کې به افغانستان د هند، چین او پردې سربېره د اروپا او منځني ختیځ بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي، چې په دې سره د افغانستان او نړۍ اړیکې لا پیاوړې او نږدې شي. دغه

بندر د مرکزي اسیا هېوادونو او په ځانگړي ډول د افغانستان لپاره چې په وچې پورې تړلی هېواد دی، ځانگړی اقتصادي ارزښت لري. چابهار بندر د افغانستان لپاره د بندر عباس په پرتله لسگونه کیلومتره او د کراچۍ بندر په پرتله بیا سلگونه کیلومتره لنډ دی، چې له دې لارې به د صادراتو په لگښت او وخت کې په بې ساري ډول کموالی راشي. چابهار بندر په جغرافیوي لحاظ په یو ستراتیژیک موقعیت کې جوړ شوی چې له دې لارې افغانستان کولای شي نوي سوداگریز او ترانزیتي ملگري پیدا کړي او په کم وخت او لږ مصرف له نړیوالو سوداگریزو بازارونو سره ونښلول شي.

# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند حین بازدید از بندر چابهار
# **در یک نشست ویژه با مسؤلین ایرانی دیدار و گفتگو کرد**

محترم ملا عبدالغنی بـرادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء حین بازدید از بندر چابهار در یک نشست ویژه با والی بلوجستان، حسن کاظمی قمی سفیر ایران در افغانستان، حجت الله عبدالملکی مسؤل تجارتی مناطق آزاد ایران، قاسم عسکری مسؤل بندر چابهار و شماری دیگر از مسؤلین ایرانی دیدار و گفتگو کرد.

در این نشست محترم ملا صاحب از طرف ایرانی خواست تا برای مدت طولانی در بندر چابهار زمین با قیمت مناسب برای افغانستان اختصاص دهد تا تسهیلات لازم بـرای افزایش صادرات و واردات افغانستان از طریق این بندر به وجود آید و برای افغانستان تسهیلات بخاطر استفاده از این بندر فراهم شود. تا از طریق بندر چابهار تا سطح ترانزیتی افغانستان افزایش به عمل آید. طرف ایرانی به محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت که افغانستان می تواند، سر از فردا از بندر چابهار برای صادرات، واردات و ترانزیت استفاده کند. به گفته مسوولین ایرانی، ایران در این زمینه آماده گی کامل دارد.

در پایان این نشست جهت دسترسی کامل افغانستان به بندر چابهار و در حصه به وجود آمدن هرگونه سهولت ها و همکاری از سوی ایران در این بخش توافق صورت گرفت.









## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

# په چابهار نړیوال پوهنتون کې

### له افغان محصلینو سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ایران اسلامي جمهوریت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې له چابهار بندر څخه د لیدنې پر مهال په چابهار نړیوال پوهنتون کې له افغان محصلینو سره وکتل. محترم ملا صاحب د یادو محصلینو د هڅو او زده کړو ستاینه وکړه او ویې ویل، چې دا یو ښه فرصت دی چې تاسو ته په بهر کې د زده کړو زمینه برابره شوې ده، نو پکار ده چې له دې په لاس راغلي فرصت څخه ښه استفاده وکړئ او په راتلونکي کې د خپل هېواد په آبادۍ کې خپل مسوولیت په ښه ډول ادا کړئ.

## معاون اقتصادی ریاست الوزراء با وزیر انرژی ایران ملاقات نمود

در این ملاقات دو طرف پیرامون مدیریت آب، همکاری های تخنیکی ایران در زمینه تولید برق در افغانستان و همچنان سرمایه گذاری ها، استفاده از سیستم های آبیاری پیشرفته و افزایش همکاری های مشترک در ارتباط به خشکسالی بحث و تبادل نظر نمودند. محترم ملا صاحب گفت: خشکسالی های اخیر بر منابع آبی منطقه به ویژه افغانستان تأثیر ناگواری داشته است که به دلیل آن سطح آب های سطحی و زیرزمینی به مقدار قابل ملاحظه ای کاهش یافته است. در بسیاری از مناطق، مردم داخل کشور مجبور به ترک خانه های شان شده اند و برخی دیگر مجبور به مهاجرت گردیده اند. محترم ملا صاحب همچنان گفتند که چندی پیش هیئت تخنیکی جمهوری اسلامی ایران از دریای هلمند بازدید کردند، آنها این را قبول کردند که آب دریای هلمند از سطح قبلی خود چند برابر کاهش یافته و رویکرد امارت اسلامی در این بخش به جا است. همچنان معاون اقتصادی ریاست الوزراء از جانب ایرانی خواست تا تجربیات و همکاری های تخنیکی خود را در زمینه تولید برق داخلی با افغانستان در میان بگذارد. به گفته محترم ملا صاحب، افغانستان که تازه از جنگ و اشغال بیرون آمده است، منابع سرشاری در عرصه تولید برق آبی، بادی، آفتابی و تولید انرژی از زغال سنگ دارد که با استفاده از آن مشکل کمبود برق در داخل کشور حل و صنعت با آن رشد چشمگیری خواهد داشت. محترم علی اکبر محرابیان وزیر انرژی جمهوری اسلامی ایران با محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء در خصوص مبارزه مشترک با خشکسالی در ایران و افغانستان، افزون بر همکاری های تخنیکی ایران در زمینه تولید برق در افغانستان و از همکاری های آن کشور در زمینه سرمایه گذاری و مدیریت سالم آب و استفاده از آن اطمینان داد.

## هیئت بلند رتبه امارتی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند
## بعد از سفر شش روزه خویش به ایران به کابل برگشتند

هیئت بلند رتبه امارتی به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء بعد از سفر شش روزه خویش به جمهوری اسلامی ایران ۱۹ ام عقرب به کابل برگشتند. معاون اقتصادی ریاست الوزراء در میدان هوایی بین المللی کابل در کنفرانسی حین سخنان خود گفت: «هنگامی سفر به جمهوری اسلامی ایران با مقامات بلند پایه آن کشور دیدار داشتیم و افزون بر آن از بندر چابهار و برخی فابریکه های صنعتی و تولیدی دیدن نمودیم. هدف سفر ما این بود تا برای صادرات محصولات افغانی و واردات راه سهل و ارزانتر را جستجو کنیم، که با آن تجارت افغانستان بیشتر گردد.» محترم ملا صاحب حین سخنان خویش افزود، در جریان این سفر در عرصه های تجارت، صنعت، ترانزیت، نفت، ترانسپورت، شبکه خط آهن و مخابرات و تکنالوژی معلوماتی برخی از تفاهمنامه ها به امضا رسیده است. به گفته ملا صاحب این دست‌آورد بزرگی برای هر دو کشور در زمینه صنعت و تجارت است. به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند هیئت همراه شان به منظور تعقیب این تفاهم‌نامه ها به تیم های کاری هر دو طرف به مدت یک ماه وقت تعیین کردند. در جریان این سفر مسؤلین بندر چابهار ایران به هیئت افغانی اطمینان داد که افغانستان می تواند همین اکنون از بندر چابهار جهت تجارت، صادرات، واردات و ترانزیت عملاً استفاده نماید.



# د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ناسته ترسره شوه

د پانګونې بین‌الــوزارتي کمېټې کاري غونډه په مرمرینـــه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د وړاندې شوو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

یادې غونډې ته د لمریزې برېښنا د تولید، له ترکمنستـــان څخه د وارداتي برېښنا د لېــږد په برخــه کــې د پانګونې طرحې وړاندې شوې وې چې له هر اړخیز بحث وروســته په پرنیسپ کې تائید او د اوبو او انــرژۍ وزارت او د افغانســتان برېښــنا شرکت ته دنده وسپارل شوه تر څو یادې طرحــې د تخنیکي، اقتصــادي او مالي تحلیلونو او د دې ناستې د وړاندېزونو په نظــر کې نیولــو سره د طرحــو وړاندې کوونکو شرکتونو له اســتازو سره بیا ځل ناستې ترسره کړي او راپور یې د پانګونې څلورمې نوبتي ناستې ته راوړي. په کابل ښــار کې پر نړیوالو معیارونـــو برابر لوی سوداګریز مارکېټ او مرکز جوړولو طرحې هم د خصوصي ســکټور له لوري وړاندې شوې وې چې تر هراړخیز بحث وروسته د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې د استازي په ګډون د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ، کور او ښار جوړولو، اطلاعاتو او کلتور وزارتونو، کابل ښــاروالۍ او چاپېریال ساتنې ملي ادارې له استازو څخه جوړې شوې ګډې کمېټې ته دنده وســپارل شوه، څو یادې طرحې پــه هراړخیز ډول وڅېــړي او د نهایــي تصمیــم نیونــې پــه موخه یې راتلونکې غونډې ته راپور وړاندې کړي.

د پانګونې بین‌الــوزارتي کمېټه په هېواد کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جلب او جذب د بهیر چټکتیا، د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د طرحو په طــی مراحلو کې د همغږۍ، په هېواد کې د پانګونې لپاره د مناســب چاپېریال رامنځتــه کولو او د پانګونې چارو د ښه مدیریت لپاره د زمینې برابرولو په موخه رامنځته شــوې. د دې کمېټې د کاري فعالیت له پیل سره ســم اوسمهال کورني او بهرني پانګوال کولای شي خپلې طرحــې په فزیکــي ډول د ریاســت الوزراء اقتصــادي معاونیت د اقتصــادي کمېســیون دارالانشــاء ته راواســتوي او پر دې سربېــره یې پر دغه برېښنالیک (AIIMC@dpmea.gov.af) رالېږلــی او پــه دې شــمېرو (٠٧٧٠٩٨٥١٠٠، ٠٢٠٢١٠٠٩٧٦) اړیکه نیولی شي.





# مقالې

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند

# بهرنۍ پانګونه؛

## ارزښت او په اقتصادي پرمختګ کې یې ونډې ته کتنه

لیکوال: فضل ولي شیراني

موږ غواړو په دغه لیکنه کې د بهرنـــۍ پانګونې پر پېژندنه، په اقتصاد کې د بهرنۍ پانګونې پر ونډې او ارزښت، د بهرنۍ پانګونې د جذب لپاره پر مهمو ټکو او د بهرنۍ پانګونې د جذب په برخه کې د اسلامي امارت د ترسره شوو هڅو په اړه خبرې وکړو.



## سریزه

پیاوړی اقتصاد د هر هېواد او هر ملت هیله ده. نن ورځ د هېوادونو پرستیژ، نړیوال حیثیت او په نړیوالو مسایلو کې یې دریځ او د نظر ورکولو اهمیت، د دوی د خپل ملت پر وړاندې د درناوي او منل کېدو څرنګوالی او ډېر نور مسایل اقتصاد او اقتصادي قدرت پورې اړه لري. له نیکه مرغه افغانستان د اقتصادي پرمختګ ډېر ښه ظرفیت لري او اوس یې د استفادې لپاره زمینه برابره شوې ده.

د افغانستان اقتصاد په وروستیو شاوخوا څلورو لسیزو کې د اشغال او جګړو، سیاسي او امنیتي بې ثباتۍ او دغه راز په هېواد کې د رامنځته شوې وچکالۍ له امله سخت زیان لیدلی دی. هېواد مو په دې موده کې له سترو بدلونونو، ناخوالو، نیواک او ګډوډیو سره مخامخ و، ددې ستونزو په خوا کې یوه ستره ستونزه دا هم وه چې په هېواد کې د پانګونې له پاره زمینه برابره نه وه او دې چارې پر اقتصاد ناوړه اغېزه ښندلې وه. که چېرې د پانګونې په ځانګړي ډول بهرنۍ پانګونې له پاره زمینه برابره شوې وای، نو زموږ اقتصاد به دومره کمزوری نه و.

خو د اسلامي امارت په راتګ سره له دې چې افغانستان له بېلا بېلو ستونزو له هغې جملې د نړیوالې ټولنې له لوري د بندیزونو وضع کېدو، د امریکا له لوري د افغانستان د شتمنۍ کنګل کېدو او پر بانکي سیستم د محدودیتونو وضع کېدو سره سره پر دې وتوانید چې د اقتصاد د پرمختګ په ځانګړي ډول د پانګونې او خاصتاً د بهرنۍ پانګونې د جلب په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ولري او په دې برخه کې یې مؤثر ګامونه پورته کړي دي. تر دې مهاله بېلا بېلو هېوادونو او ګڼو بهرنیو کمپنیو په مختلفو زیربنایي، خدماتي او ټولګټو برخو کې د پانګونې له پاره لېوالتیا ښودلې ده چې یو شمېر یې عملاً کار پیل کړی دی. پر دې سربېره د دولتونو په کچه د بهرنۍ پانګونې د جذب او اقتصادي همکاریو په اړه هلې ځلې ترسره شوې دي. افغانستان ته د بېلا بېلو هېوادونو پلاوي راغلي او دلته یې له مسوولینو سره د دوه اړخیزو اړیکو ټینګولو ترڅنګ د اقتصادي، سوداګریزو او یو شمېر زیربنایي پروژو د پیل په اړه خبرې اترې کړې او هڅه شوې چې په دې برخو کې پرمختګ وشي. موږ غواړو په دغه لیکنه کې د بهرنۍ پانګونې پر پېژندنه، په اقتصاد کې د بهرنۍ پانګونې پر ونډې او ارزښت، د بهرنۍ پانګونې د جذب لپاره پر مهمو ټکو او د بهرنۍ پانګونې د جذب په برخه کې د اسلامي امارت د ترسره شوو هڅو په اړه خبرې وکړو.



## پانګونه

د اقتصادي ودې لپاره پانګونې ته اړتیا ده. غوره ده چې لومړی د پانګونې تعریف وشي او موږ پر دې پوه شو چې پانګونه څه ته وايي. په اقتصاد کې پانګونه داسې تعریف شوې ده، د وخت په یوه دوره کې د شتمنۍ داسې تخصیص او په کار اچول چې د هغې په ارزښت کې زیاتوالی راشي. اوسني وخت کې په افغانستان کې د پخوا په پرتله د پانګونې ډېره یادونه کیږي. پانګونه ځانګړي شرایط او د تحلیل میتودونه لري. د پانګونې اصول، طرز، قوانین او د پایلو سنجول یو ډېر باریک کار دی. باید په دې اړه له پوره دقت څخه کار واخیستل شي. پانګونه په خپل ذات کې په دوه ډوله ده چې یو ډول یې کورنۍ او بله هغه یې بهرنۍ ده.

کورنۍ پانګونه هغه ده چې دولت یا یې هم خصوصي سکټور په قانوني ګټورو کاروبارونو کې کوي. بهرنۍ پانګونه بیا د بهرنیو خصوصي شرکتونو، کمپنیو او یا افرادو له لوري په قانوني کاروبار کې ترسره کیږي. خو دا دواړه باید د دولت د موخو په چوکاټ کې وي. له دغه دوو ډولو څخه موږ یوازې د بهرنۍ پانګونې ډولونه دلته راوړو، ځکه لیکنه مو په همدې موضوع راڅرخي. ډېری پانګونې ګډې یا مختلطې هم وي، یعنې هم دولتي او هم خصوصي سکټور، هم خارجي او هم داخلي. د افغانستان دولت پخوا او نه هم اوس د دې اجازه ورکړې چې په یوه شرکت یا اقتصادي فعالیت کې دې د بهرنۍ پانګې اندازه له ۴۹٪ څخه زیاته وي. لامل یې دادی چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د بهرنیو پانګو له پاره یوه نوې دوره رامنځته شوه، د وخت په تېرېدو سره په اویایمه میلادي لسیزه کې په نړۍ کې د څو ملیتي کمپنیو د فعالیت په ډېرېدلو سره ځینې اقتصاد پوهان اندېښمن شول، ځکه څو ملیتي کمپنیو د خپل فعالیت له پاره هغه ځایونه انتخابول کوم چې مساعد شرایط یې درلودل. دې شرایطو د سیاستمدارانو اندېښنې راوپارولې. داسې معلومېده چې څو ملیتي کمپنۍ به د خپلې پشتوانې د اندازې او د عملیاتو د لمنې په پراخوالي سره ډېر ژر د کوربه هېواد د مجموعي اقتصاد په نسبت پرمختګ وکړي او بالاخره به د نړۍ اقتصاد په ډېر لږ وخت کې تر خپلې ولکې لاندې راولي. په دې توګه بهرنیو پانګونو یو شمېر اندېښنې راوپارولې او د یوه پرمختګ په حال کې هېواد له پاره اوس هم د اندېښنې او پوره دقت وړ مسئله ده. خو که چېرې موږ پورتنی قانون په پام کې ونیسو بیا له دې خطر څخه خوندي پاتې کېدلی شو. دلته به د بهرنۍ پانګونې ډولونو ته اشاره وکړو.



## بهرنۍ پانګونه او د هغې ډولونه

د يوې ټولنې او يا هم د يو هېواد اقتصاد په پانګونې ولاړ وي، ځکه د همدغه پانګونې په برکت توليد رامنځ ته کيږي او توليد بيا هغه څه دی چې د اقتصادي تحرک په موخه د وګړو هلې ځلې او فعاليتونه سره را يو ځای کوي. ځوک مستقيماً د توليد په پروسه کې دخيل وي، ځوک ورته خام مواد برابروي، د چا دنده بازار موندنه وي او يو شمېر يې په نورو برخو کې په کار بوخت وي. دا ټول هغه څه دي چې له پانګونې سرچينه اخلي، ځکه خو بايد د اقتصادي نظام د تحرک په موخه پانګونه تشويق، حمايه او وهڅول شي. د مخ پر ودې هېوادونو له پاره بهرنۍ پانګونه ځکه مهمه ده چې په کور دننه پانګوال دومره پانګه او سرمايه نه لري چې د هېواد په ټولو برخو کې دې پانګونه وکړي. بهرنۍ پانګونه په دوو برخو وېشل کېږي:




۱- **خصوصي بهرنۍ پانګونه**: خصوصي بهرنۍ پانګونه هغه مالي شتمني ده چې د افرادو يا خصوصي شرکتونو له لوري يو بل هېواد ته ليږدول کېږي او ګټه يې همدې خصوصي پانګوالو ته رسېږي. دا پانګونه بيا په دوه ډوله ده: مستقيمه بهرنۍ پانګونه او غير مستقيمه بهرنۍ پانګونه. مستقيمه بهرنۍ پانګونه هغه ده، چې بهرني پانګوال په مستقيم ډول په کوربه هېواد کې د راتلونکې ګټې په موخه پانګونه کوي. په مستقيمه بهرنۍ پانګونه کې پانګوال د اقتصادي واحد اداره او کنټرول مستقيماً د خپل فزيکي حضور او مالي مسئوليت په منلو سره په واک کې اخلي. له حقوقي پلوه مستقيمه بهرنۍ پانګونه دوې برخې لري. خپلواکه يا مستقله بهرنۍ پانګونه او مشترکه يا ګډه بهرنۍ پانګونه. خپلواکه يا مستقله بهرنۍ پانګونه د هغو بهرنيو شرکتونو پانګه ده، چې د هغې مالکيت ۱۰۰٪ په بهرنيو پانګوالو پورې تړاو ولري. لکه څنګه يې چې له نوم څخه ښکاري؛ په دې ډول پانګونه کې د کورنيو پانګوالو له پاره ځای نشته او بهرني پانګوال هر ډول ازادي لري. يو شمېر بهرني پانګوال دې ته زيات ليواله وي، چې د هېواد له ضعيف اقتصاد يا مجبوريت څخه استفاده وکړي او همدغه ډول پانګونه وکړي. مشترکه يا ګډه بهرنۍ پانګونه بيا د پانګونې مصارف او عايد د کورنيو او بهرنيو پانګوالو ترمنځ د هغوی د پانګو په تناسب وېشل کېږي، که څه هم په ځينو هېوادونو کې د سل سلنې مالکيت په درلودو سره بهرنۍ پانګونه اوس هم شته، خو دې تګلارې سوکه سوکه خپل ځای مشترکې بهرنۍ پانګونې ته پرېښې دی. د غير مستقيمې بهرنۍ پانګونې موخه د مالي شتمنيو او دارايي اخيستل دي، لکه اسهام چې په واردونکي هېواد کې پيسې خېروي. د قرضې يا پور د اسنادو اخيستلو په صورت



کې د خپلې پانګې په مقابل کې یو سند ترلاسه کوي، چې ګټه او وخت يې معلوم وي او د قرارداد مطابق يې هر کال ګټه ترلاسه کوي او له ټاکلې مودې وروسته خپله اصلي پانګه بېرته ترلاسه کوي. دلته د غير مستقيمې بهرنۍ پانګونې په صورت کې بهرني پانګوال د اسهامو يا د قرضې د اسنادو په اخيستلو سره خپله پانګه کوربه هېواد ته واردوي او د خپل سهم په اندازه په مالکيت کې واک او د رايې حق لري او د هغه په اندازه ګټه يا تاوان کوي، نو په دې اساس پانګې ته کم خطر متوجه کېږي او اداري مسووليت يې هم کم وي، نو په دې دليل بهرني پانګوال دې ډول پانګونې ته ډېره لېوالتيا لري.

**۲- رسمي يا عمومي پانګونه:** عمومي يا رسمي بهرنۍ پانګونه د دولتي مقاماتو د رسمي پرېکړو او توافق له مخې وي او په دوه ډوله ده. د دوو هېوادونو يا د هغوی د مرکزي بانکونو ترمنځ، چې ځينې وخت د قرضې د قرارداد يا بهرنۍ مرستې په شکل وي. هغه شکل چې د نړيوالو سازمانونو لکه نړيوال بانک، د پيسو نړيوال وجهي صندوق او نورو په واسطه دا پيسې د هېوادونو ترمنځ انتقال پيدا کړي. ددې پورونو يوه برخه په مستقيم ډول د پور اخيستونکي هېواد په اختيار کې ورکول کېږي او کولای شي، په هره برخه کې چې وغواړي ويې لګوي، خو زياتره وخت دا پورونه مشروط وي او پور ورکوونکی هېواد يا سازمان د هغه د مصرف موارد ورته مشخص کوي او په څو مرحلو او د مصرف له مواردو څخه د اطمينان په حاصلولو سره دا پورونه درخواست کوونکي هېواد ته ورکوي. خو دا چې د بهرنۍ پانګونې د جلب له پاره کوم ټکي اړين دي، لاندې يې په ګډه لولو.

## د بهرنۍ پانګې راجلبولو له پاره مهم ټکي

وروسته پاتې يا مخ پر ودې هېوادونه ځکه د فقر تر بدمرغه کرښې لاندې پراته دي چې هلته پانګونه نشته او يا هم په داسې هېوادونو کې د پانګونې کچه ډېره ټيټه ده. پوښتنه پيداکيږي چې دلته د پانګونې د نه شتون او يا کموالي لامل څه دی؟ په ځواب کې يې بايد ووايو چې اصلاً په دغو هېوادونو کې د پانګې جوړښت کم او يا هم په نشت حساب وي، د وګړو عايد کم او لګښتونه يې زيات وي، ځکه خو يې په واک کې د پانګونې لپاره کافي پانګه او سرمايه نه وي. د دې لپاره چې بهرنۍ پانګونه را جلب کړو بايد لاندې ټکو ته پام وکړو او د هغوی د غښتلي کولو له پاره لازم تدابير ونيسو:



**اقتصــادي ټیــکاو:** اقتصادي ټیــکاو هغه څــه دی چې پانگوال لومړیتوب ورکوي، دا ځکه چې اقتصادي ټیکاو د پانگونې د راتلونکو زیانونو مخه نیسي. د بېلگې په ډول په کومو هېوادونو کې چې د انفلاسیون نرخ یا کچه ثابته وي، هلته پانگوال د خپلو راتلونکو لگښــتونو اټکل په ښه توگه کولی شي، خو چېرتــه چې اقتصادي بې ثباتي او هرج او مــرج وي؛ نو پانگوال به هېڅکله هلته د پانگونې لپاره زړه ښه نه کړي. د دې له پاره چې بهرنۍ پانگونه را جلب شي، هېوادونه باید د ســوداگریزو او اقتصادي کړنو له پاره ثابت چاپېریال رامنځته کړي.



**ټیټ مالیات:** د مالیاتو کچه هم په بهرنۍ پانگونه کې ډېر اهمیت لري. پــه کومو هېوادونو کې چــې د مالیاتو کچه لــوړه وي پانگوال هلته پانگونــه نه کوي، ځکه زیاته گټه د مالیاتو په شکل د دولت لاس ته ورځي. دغه راز که چېرې مالیــات لــوړ وي، نو بیا پانگــوال خپل لگښــتونه پر توکو وراچوي او دا بیــا د بیو د لوړېدو لامل گرځي. همدا لامل دی، هغه هېوادونه چې د مالیې کچه یې ټیټه وي، هغه بیا د پانگونې له پاره مناسب گڼل کېږي.




**مســلکي او روزل شــوی کاري ځواک:** کلــه چې په یوه هېــواد کې کاري ځواک غیرمســلکي او اړین مهارتونه ونه لري، نو هلته بیا پانگوال د خپلې پانگې یوه برخه د کارگرو او کاري ځــواک په روزلو لگــوي او دا بیا خپله د پانگې په کچه منفي اغېزه کوي. بل لور ته د کارگرو د کم مهارت له امله د تولید اندازه کمه وي او دا چاره بیا د کارو بار پر گټه نــاوړه اغېزه کوي. خو که د یوه هېواد کاري ځواک تر یوې اندازې مســلکي او د اړتیا وړ مهــارت ولري، هلته پانگوال خپله گټه ویني او له ځنډ پرته پانگونه کوي.



**د مزد کمه کچه:** ځینــې هېوادونه د کارګرو له پاره مزد ټاکي، شرکتونه او کاروباري واحدونه اړ دي چې له ټاکلې اندازې کم مزد خپل کارګر ته ور نه کړي. دا چاره د تولید د لګښتونو د لوړېدو سبب ګرځي او ددې اړتیا هم را منځته کېږي چې یو شمیر کارګران له دندو لرې شي او تولیدونکي غواړي له دې لارې د خپل تولید لګښــتونه راکم کړي او د ګټې اندازه لوړه کړي. په اجوره یا مزد کې د دولت نه لاسـوهنه بهـرني پانګوال په یوه هېواد کې پانګونــې ته هڅــوي او د بهرنۍ پانګې د جلب په پار بایـد په دې اړه لازم تصمیمونه ونیول شي.



**قانــوني محدودیتونه:** ټــول هېوادونه د خپلو دولتــي، ټولنیزو او اقتصادي چارو د سمبالښــت پــه موخه بېلابېل مقررات او قوانیــن پلي کوي. خو کله ناکلــه دغه ډول مقــررات او قوانین د یوه هېواد په ګټه نــه وي. که چېرې د پانګوالــو او کاروبار له پاره ځینې مقررات او قوانین وضع شي، نو ښــکاره ده چې د دغو مقرراتو یوه برخه یې د تولید لګښت زیاتوي او په دې هم پوهېږو چې د تولید د لګښت د زیاتوالي بیه بیا مصرفوونکي او کورنۍ پرې کوي، نو ددې پر ځای چې مقررات ګټور تمام شي، عامو خلکو ته یې زیان رسـېږي. ددې ترڅنګ په داســې ســختو مقرراتو او قوانینو به مو د بهرنیو پانګوالو د پانګونــې مخه هم ډب کړې وي. نو په کار ده چې اســانه مقررات او قوانین رامنځته شي، چې ګټه یې هم هېواد او هېوادوالو ته ورســېږي او هم بهرنۍ پانګوال پانګونې ته وهڅول شي.



**امنیت:** د یوه هېواد امنیت د بهرنۍ پانګونې د جلب له سترو فکتورونو څخه دی. په کوم هېواد کې چې د پانګوالو او د هغوی د کاروبار امنیت خوندي نه وي، هلته هېڅکله هم پانګوال پانګونې ته زړه نه ښه کوي. په کومو هېوادونو کې چې سرتاسري امنیــت ټینګ نه وي، ناامني وي، هلته پانګوال ددې پر ځــای چې پانګونه وکړي، ان داخلي پانګوال هم هڅه کوي چې خپله پانګه امــن او خوندي هېوادونو ته وباسي. ددې ترڅنګ ازاده ســوداګري او د پور اســانتیاوې هم هغــه څه دي چې کولای شي بهرنۍ پانګونــې ته لاره هواره کــړي. دلته غــواړو ووایو چې په ټوله کې پانګونــه او په ځانګړي ډول بهرنۍ پانګونه د یوه هېواد پر اقتصاد څه اغېزه لري؟



## بهرنۍ پانګونه او په اقتصاد کې یې ونډه

که چېرې د اقتصاد پوهانو نظرونو ته ځیر شو؛ نو دا به راته جوته شي چې له ملي پولو بهر د پانګې وتل او په نورو هېوادونو کې پانګونه د پخوانیو ملتونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو او نړیوالې سوداګرۍ ښکارندوی وه. په همدې موخه د دې برخې څېړونکو له خپلو فرضیو څخه د ښې نتیجې اخیستلو په خاطر د پانګې او پانګونې د حرکت لوری وڅېړه، د پانګې د حرکت تیوري یوازې د پانګې حرکت نه مطالعه کوي، بلکې د پانګې د حرکت بهیر، لاملونه او اغېزې هم څېړي.

د پرمختګ په حال کې هېوادونه د اقتصادي ودې په موخه بهرنۍ پانګونې ته اجازه ورکوي او یا هغه را جلبوي، ځکه ډېره پانګونه د اقتصاد د پرمختګ او غوړېدو په مانا ده او دا چې د مخ پر ودې هېوادونو په کور دننه پانګه کمه ده او یا هم د چټکې اقتصادي ودې لپاره بسنه نه کوي، ځکه خو باید د یاد هدف د ترلاسه کولو په خاطر د بهرنۍ پانګونې څخه ګټه واخیستل شي. بهرنۍ پانګونه د یوه هېواد په اقتصادي وده کې مرسته کوي. بهرنۍ پانګه په کوربه هېواد کې ګڼ کاري فرصتونه رامنځته او د بې کارۍ کچه راټیټوي، یاد هېواد ته نوې ټکنالوژي او مسلکي بشري قوه لېږدوي، د کارګرو د تولید کچه زیاتوي چې دا د سوداګرۍ د ودې لامل ګرځي. کله چې دا ټول رامنځته شي، نو بیا د خلکو د ژوند کچه لوړېږي، اقتصادي پراختیا رامنځته کېږي او په پایله کې د اقتصادي ټیکاو پر رامنځته کېدو تمامېږي. اوسمهال زمونږ ګران هیواد افغانستان هم د مخ پر ودې هېوادونو په لړ کې راځي او تازه د اقتصادي ودې او پرمختګ بهیر ته داخل شوی دی. د مخ پر ودې هېوادونو د ځانګړنو پر بنسټ مونږ هم د پانګې له کمبود سره مخ یوو، ځکه خو باید د نورو پرمختیایي هېوادونو او یا پرمختللي هېوادونو له تجربو ګټه واخلو او د خپلې اقتصادي ودې، پرمختګ او هوساینې لپاره هغه ټولې لارې چارې په کار واچوو چې زمونږ له اقتصادي پرمختګ سره مرسته کوي. لکه مخکې مو چې یادونه وکړه د دغه لارو چارو څخه یوه هم بهرنۍ پانګونه ده. که چېرې موږ پر دې بریالي شوو چې بهرنۍ پانګونه د خپل هېواد د قوانینو په رڼا کې راجلب کړو، نو بیا کولای شو چې زېربنایي پروژې عملي، طبیعي زېرمې استخراج، صنعت پیاوړی، کرنه میکانیزه او نور سکټورونه پر خپلو پښو ودرو. له دې سره به بیا موږ په رښتیا هم د یوه پیاوړي اقتصاد څښتنان او هېواد به مو پرمختللی وي.
دا چې اسلامي امارت د بهرنۍ پانګونې د جذب په برخه کې څه کړي دي، په بله پاڼه کې به یې ولولو.



# اسلامي امارت او د بهرنۍ پانګونې د جذب په برخه کې یې هڅې

نن سبا ډېری مخ پر ودې هېوادونو د بهرنیو پانګوالو پرمخ خپلې دروازې پرانیستې دي. هغوی دا کار د پانګې د جوړښت او په هېواد کې د پانګونې د کچې د زیاتوالي په موخه کړی دی. په اوسني وخت کې بهرنۍ پانګونه د هېوادونو تر منځ د اقتصادي نږدیوالي او په ټوله کې د نړیوالتوب یا ګلوبلایزیشن زیږنده او ځانګړنه ده. خو هر پانګوال (کورنی او بهرنی) خپله پانګه ډېره په هوښیارۍ مصرفوي. زموږ لپاره عام المنفعه او پراختیایي پروژې ډېر ارزښت لري، تر څو خپلو انکشافي اهدافو ته ورسېږو. اسلامي امارت د بهرنۍ پانګونې ارزښت او اهمیت ته په کتو هڅه کړې ده چې د بهرنیو پانګوالو له پاره د پانګونې زمینه برابره کړي. په هېواد کې سرتاسري امنیت، له طبیعي زېرمو غني هېواد، د پانګونې ملاتړی حکومت، ارزانه ځوان کاري ځواک، د سوداګرۍ او کاروبار کم لګښتونه، د سیمه‌ییز اتصال له لارې نړیوالو بازارونو ته اسانه لاسرسی، دوه اړخیز او څو اړخیز سوداګریز تړونونه، د سوداګرۍ له پاره پراخ چاپېریال، د کمو سیالانو په شتون کې ناکارول شوی بازار، د سوداګرۍ په نړیوال سازمان کې غړیتوب، د بهرنیو پانګوالو له پاره د اسانتیاوو په موخه د واحد مرکز رامنځته کول، د پانګونې اسان قوانین او په زړه پورې مالیاتي کځورې. دې ټکو ته په کتو تر دې مهاله لسګونو بهرنیو سترو کمپنیو لیوالتیا ښودلې ده چې د کانونو، کرنې، برېښنا او انرژۍ، ترانسپورټ، کوچنیو او منځنیو تشبثاتو، ګمرکاتو، هوايي ډګرونو کې د خدمتونو وړاندې کولو، ترانزیټ، صنعتي پارکونو، ریل پټلۍ... او داسې نورو برخو کې پانګونه وکړي. ددې ترڅنګ د ګازو د نللیکې غځولو، د ګران بیه او نیمه ګران بیه ډبرو د کمپلکسونو د رامنځته کېدو، اقتصادي زونونو د جوړېدو، معلوماتي ټکنالوژۍ او نورو برخو کې له یو شمېر کمپنیو سره تړونونه لاسلیک شوي چې کارونه به یې په نږدې راتلونکي کې پیل شي. دا څه موده وړاندې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د طبیعي زېرمو له جملې د ۷ میلیارده ډالرو په ارزښت د هرات غوریانو د اوسپنې کان څلور بلاکونه، د غور د تولک د سرپو کان یو بلاک، د تخار د سمتي سرو زرو کان او د لوګر د دوهم مس عینک د مسو کان تړونونه لاسلیک شول. دغه پانګونه د کورنیو پانګوالو ترڅنګ د ترکیې، ایران او انګلستان هېوادونو د پانګوالو له لوري شوې ده.

پر دې سربیره د بهرنۍ پانګونې د جذب او د اقتصادي همکاریو د زیاتوالي په موخه د دولتونو په کچه هلې ځلې



شوي دي. په دې لړ کې موږ او تاسو وينو چې د بېلا بېلو هېوادونو پلاوي افغانستان ته سفر کړی او دلته يې له مسوولينو سره پر دوه اړخيزو اړيکو سربېره د اقتصاد، سوداګرۍ او د يو شمېر زېربنايي پروژو د پيل په اړه خبرې اترې کړې دي. په دې برخه کې کولای شو د ترکمنستان، ازبيکستان، قرغيزستان، ايران، او چين هېوادونو د لوړو پوړو دولتي چارواکو د رسمي سفرونو يادونه وکړو. له دې پلاويو څخه د قزاقستان پلاوی چې مشري يې د ياد هېواد د ولسمشر لومړي مرستيال سريک ژومانګارين، د ازبيکستان پلاوي چې مشري يې ددې هېواد د ملي امنيت شورا سلاکار او په بهرني سياست کې د ولسمشر ځانګړي استازي عبدالعزيز کاملوف په غاړه وه، د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سره يې وکتل او د سياسي، اقتصادي، سوداګريزو، ترانزيټ، رېل پټلۍ او د زېربنايي پروژو په اړه يې هر اړخيزې خبرې وکړې. دغه راز د اسلامي امارت لوړ پوړو مسوولينو هم وخت پر وخت بهرنيو هېوادونو ته سفرونه کړي دي او په يادو هېوادونو کې د نورو مسايلو ترڅنګ په افغانستان کې د پانګونې د جلبولو په خاطر يې له دولتي چارواکو، پانګوالو او سوداګرو سره خبرې اترې کړې دي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ پلاوي د روان لمريز کال د اسد مياشتې په ۱۷مه نېټه ترکيې هېواد ته رسمي سفر وکړ. ملا صاحب په دې سفر کې له ترکي چارواکو، افغان او ترکي پانګوالو سره وکتل. پانګوالو ته يې په افغانستان کې د پانګونې په خاطر بلنه ورکړه چې زياترو يې په دې هېواد کې د پانګونې له پاره ليوالتيا وښودله. د اقتصادي معاونيت تر چتر لاندې د اقتصادي کمېسيون له پرېکړې سره سم د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټه جوړه شوه. د بين‌الوزارتي کمېټې د رامنځته کېدو موخه د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جلب او جذب د بهير چټکتيا، د پانګونې د طرحو په طی‌مراحلو کې د اړوندو وزارتونو او ادارو ترمنځ همغږي، د پانګونې لپاره د مناسب چاپېريال او د چارو د ښه مديريت زمينې برابرول او په افغانستان کې د پانګونې پروژو په اړه پانګوالو ته د لازمو معلوماتو چمتو کول دي. دغه راز د امو د تيلو حوزې تړون له يوې چينايي کمپنۍ سره شوی، دغه کمپنۍ به په لومړي کال کې ۱۵۰ مېليونه ډالر پانګونه کوي او وروسته به يې کچه ۵۴۰ مېليونو ډالرو ته رسېږي. د لوګر د مس عينک کان قرارداد له چينايي ام سي سي شرکت سره شوی چې د استخراج له پيل سره به يې زرګونو کسانو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه برابره شي او



د دولــت د عوايد کچه به هم ورسره لوړه شي. پــه همدې ډول د هېــواد په کچه شــاوخوا ۲۰۰کوچني، متوســط او ستر کانونه په قرارداد ورکړل شــوي دي او د زياتــرو دغو کانونو څخه اســتخراج پيل دی، د حکومــت خزانې ته په مېلياردونو افغانــۍ عوايــد راځــي او ددې ترڅنګ زرګونو کسانو ته د کار زمينه برابره شوې ده. د روان کال د تلې مياشــتې په ۲۲ مه د ګلبهار ګروپ کورني شرکت سره د ۱۴۲ مېليونو ډالرو په ارزښــت د سمنټو قرارداد وشــو. د کانونو او پټروليم وزارت د احصايــي له مخې چې ســږ کال دې وزارت د ۴٦۲ مېليونو ډالرو په ارزښت د ســمنټو درې ســترې پــروژې لاســليک کړې دي. دا په داسې حال کې ده چې څــه مــوده وړانــدې د جبل الــسراج د ســيمنټو د توليــد فابريکــه يــوه قطري پانګــوال ته پــه قرارداد ورکړل شــوه. د هغــه قرارداد ټول ارزښــت له دوه ســوه ميليونو ډالرو اوړي او کلنی توليد به يې يــو مېليــون ټنــه ســيمنټ وي. ددې فابريکې ســيمنټ به له نړيوالو معيارونو سره برابــر وي او د ســمنټو لــه اړخه به افغانســتان پــر ځــان بســيا‌ينې تــه ورســيږي. دا ټول پــه اوس او راتلونکي کې د اقتصاد پــه وده، پراختيا او ټيکاو کــې د بهرنــۍ پانګونې د مثبتــو اغېزو ښــکارندويي کوي. لــه دې څخه جوته شــوه چــې اســلامي امــارت د بهرنــۍ پانګونــې په جلب او جــذب کې څومره هڅې کــړې دي او لا هم روانې دي. په يقين سره ويلای شــو چــې دا هڅې به مثبتــه پايلــه ورکوي او پر مــټ به يې د هېواد اقتصاد پرمختــګ کوي او موږ به په لومړي سره کې اقتصادي ودې او بيا اقتصــادي پراختيــا او پــه پايلــه کې به دايمي اقتصادي ټيکاو ته رسېږو.

## پايله

که چېرې پورتنــۍ برخې ته توجه وکړو ، نو دا بــه راتــه جوته شي چې د افغانســتان اقتصــاد ولې کمــزوری و، پانګونــې او په ځانګړې ډول بهرنــۍ پانګونې ته زمينه د کــوم لامل له مخــې برابره نــه وه. دا هغه پوښــتنې دي چې ځــواب يې له هر کس سره شــته او هغه دادی چې د افغانستان اقتصاد په تېرو شاوخوا څلورو لسيزو کې د اشــغال او جګړو، ســياسي او امنيتي بې ثباتــۍ او دغه راز په هېواد کې د رامنځته شوې وچکالۍ له امله سخت زيان ليدلی دی. همدې ســتونزو او ناخوالو په هېواد کــې د پانګونې مخه ډب کــړې وه او دې چــارې بيا پر اقتصاد ناوړه اغېزه ښــندلې وه. که چېرې د پانګونې په ځانګړي ډول بهرنۍ پانګونې له پاره زمينه برابره شــوې وای، نو زموږ اقتصاد به دومره کمزوری نه و. خو اوس الحمدلله د اسلامي امارت تر چــتر لاندې داســې يو خپلــواک مرکزي نظــام رامنځته شــوی دی چــې د هېواد اقتصادي پرمختــګ ورته لومړيتوب لري. اوســمهال په افغانســتان کې د پانګونې خصوصــا بهرنــۍ پانګونې له پــاره زمينه برابره ده. هر پانګوال کولای شي له کومې ستونزې پرته پانګونه وکړي. تر دې مهاله په ځينو برخو کې پانګونه شوې ده چې پر مټ يې زرګونو کسانو ته د کار زمينه برابره شــوې او تــر څنګ د حکومــت خزانې ته پريمانه عوايد راځي. که چېرې د پانګونې کچه ډېره شي چې اسلامي امارت يې د راجلبولو په لټه کې دی، نو له شــک پرته چې هېواد بــه مو آباد، اقتصادي ټيکاو به رامنځتــه، د خلکــو ژونــد به هوســا او يو پرمختللی هېواد به ولرو.





د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال

# الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

# پیغامونه

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال

# الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

## پیغامونه



"د یو هېواد د پرمختگ او ځان بسیاینې لپاره امنیت ډېر مهم دی چې له نېکه‌مرغه په افغانستان کې اوسمهال سرتاسري امنیت تأمین شوی، له همدې امله په کور دننه او بهر کې له مېشت افغان پانگوالو څخه غوښتنه کوو چې راشي او په خپل هېواد کې پانگونه وکړي."



"اسلامي امارت دا درک کړې ده چې د پیاوړي اقتصاد درلودو لپاره صنعت او د صنعت د پرمختگ لپاره برېښنا تر ټولو مهمه ده. همدې موخې ته د رسېدو لپاره اسلامي امارت په کور دننه د برېښنا تولید په خپلو لومړیتونو کې نیولی او په ټولو پانگوالو یې غږ کړی، چې په کور دننه د برېښنا تولید په برخه کې پانگونه وکړي."



"له طبیعي سرچینو بډایه هېواد، د پانگونې ملاتړې حکومت، ځوان، وړ او ارزانه کاري ځواک، د سیمه‌ییز اتصال له لارې نړیوالو بازارونو ته لاسرسی، د پانگونې لپاره پراخه چاپېریال او د پانگونې لپاره اسانه قوانین هغه موضوعات دي چې په افغانستان کې یې د پانگونې لپاره زمینه برابره کړې ده."



"په افغانستان کې د پانگونې د زمینې په برابرېدو سره نه یوازې افغانانو، بلکې بهرنیو پانگوالو ته هم فرصت برابر شوی او دوی کولی شي دلته د برېښنا، کانونو، زراعت، ترانسپورت، زېربناوو، ټکنالوژۍ او روغتیا ترڅنگ په گڼو نورو سکټورونو کې پانگونه وکړي."



"اســلامي امارت هڅه کوي چې په ټول هېواد کې لویې لارې، ســړکونه او د اوســپنې پټلۍ شــبکې جوړې او پراخې کړي او پر مټ یــې له هغو گاونډیو هېوادونو سره وصل شي، چې اوسمهال ورسره اتصال نه لري."



"د نوي کابل پروژه د هېواد په کچه د خصوصي سکټور او اسلامي امارت تر منځ د مشارکت یوهستره ملي پروژه ده، چې کورنیو او بهرنیو پانگوالو ته د پانگونې ښه زمینه برابروي."

# پیام های

# الحاج ملا عبدالغنی برادر اخند

## معاون اقتصادی ریاست الوزراء



«افغانستان خانهٔ مشترک همه افغانها است، عزت آنها در اینجا محفوظ است و همین نماد شناخت و هویت آنهاست. به همین دلیل است که امارت اسلامی بالعکس بسیاری از نظام های قبلی، متعهد به خدمت به مردم رنج دیده و آبادی کشور است.



از همه شهروندان به ویژه ارگان های حکومتی می خواهم برای رفع نیازمندیهای خود از محصولات زراعتی داخلی استفاده کنند. محصولات زراعتی داخلی ما چند برابر کیفیت بهتر از محصولات وارداتی دارد.»



«وزارتخانه ها و اداره های سکتوری مکلف اند که تسهیلات لازم را برای حمل و نقل، سردخانه، بسته بندی، بازاریابی داخلی و خارجی به منظور جذب بهتر محصولات زراعتی و رساندن به موقع آن به بازار ایجاد کنند.



از همه تاجران ملی تقاضا دارم که در کار خود صادق باشند و افزون بر سایر مواد و لوزم نفت و گاز با کیفیت را وارد نمایند. تا محیط زیست سالم داشته و صحت هموطنان ما مصئون باشد.»



«کانال قوش تیپه نمونه ای از گام های استواری به سوی خودکفایی است. به تمامی افغانها، تکمیل فاز اول و شروع کار فاز دوم این کانال را مبارکباد می گویم. این کانال مایه افتخار همه مردم افغانستان است و همه ما از تکمیل آن جداً حمایت خواهیم کرد.



به همه شهروندان آسیب دیده از زلزله اخیر در ولایت هرات اطمینان می دهم که در بدل خانه های ویران شده شان برای آنها سر پناهای اساسی و پخته خواهیم ساخت. امارت اسلامی حاکم نه بلکه خادم شماست .»

Deputy PM for Economic Affairs,

Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund's

# MESSAGES

Efforts are in progress to formulate a comprehensive National Economic Strategy for Afghanistan. This strategy will tackle economic sector challenges, optimize resource utilization, alleviate poverty, position Afghanistan as a regional economic hub, foster unity in addressing national goals, and stimulate the growth of the country's private sector.





The significance of land routes, with regards to security concerning maritime trade routes in Afghanistan's vicinity, is steadily rising. This emphasizes the crucial geostrategic position of Afghanistan, prompting a growing awareness of its importance.



Afghanistan's economic situation is advancing, primarily due to the dedication of business leaders and industrialists. It's noteworthy that the global community acknowledges the improved economic conditions in Afghanistan.

Deputy PM for Economic Affairs,

Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund's

# MESSAGES



Since the re-establishment of the Islamic Emirate, substantial measures have been taken to combat corruption, drug trafficking, and smuggling. The cultivation of poppy has been entirely eradicated, and the production of wheat, cotton, and various other agricultural commodities has been significantly expanded.

Afghanistan is the shared homeland of all its people, irrespective of their ethnic or linguistic backgrounds. It is a collective responsibility to rebuild our nation, liberate our fellow citizens from dependence on others, and work together for the betterment of the country.





An Economic Advisory Board, comprised of accomplished experts in the field of economics, is in the process of being established to drive economic growth and development in Afghanistan.

water resources. The Islamic Emirate is steadfast in its commitment to water management and agricultural development, of which the construction of this canal stands as a prominent example."

He went on to mention his initial concerns about the budget and timely completion of the canal's construction, but stated that Amirul Momineen Sheikh Hibatullah Akhundzada provided the necessary financial assurance. Mullah Baradar Akhund commended the sincere and dedicated efforts of the National Development Corporation employees, which, combined with their collaboration, led to the successful completion of the first phase.

The Deputy Prime Minister for Economic Affairs emphasized that the canal's construction aims not to harm anyone, but to benefit Afghanistan's development and self-sufficiency, utilizing the nation's natural resources for the greater good. He proudly noted that after 40 years of hardships, Afghans themselves have designed such a significant project, with all expenses financed from the national budget.

In conclusion, Mullah Baradar Akhund congratulated the entire Afghan populace, especially the Director of the National Development Corporation, Abdul Rahman Attash, and his team, for their dedicated work in completing the first phase of the canal. This canal stands as a source of pride and honor for all Afghans, and he affirmed the commitment to its continued progress under all circumstances.









# Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, inaugurated the completion of phase 1 and commencement of phase 2 of the Qosh Tepa canal

Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, inaugurated the first phase's completion of the Qosh Tepa Canal and the commencement of construction for the second phase.

In addition to the Deputy PM for Economic Affairs, the Deputy PM for Administrative Affairs, Maulvi Abdul Salam Hanafi, the Minister of Interior, Sirajuddin Haqqani, the Minister of National Defense, Maulvi Mohammad Yaqub Mujahid, the Chief of Intelligence, Mullah Abdul Haq Wasiq, the Minister of Mines and Petroleum, Sheikh Shahabuddin Dilawar, the Minister of Finance, Mullah Mohammad Nasir Akhund, the Minister of Economy, Qari Din Mohammad Hanif, the Minister of Water and Energy, Mullah Abdul Latif Mansour, the Minister of Agriculture, Irrigation and Livestock, Maulvi Ataullah Omari, the Minister of Higher Education, Sheikh Nida Mohammad Nadeem, the Minister of Industry and Commerce, Alhaj Nooruddin Azizi, the Minister of Transport, Mullah Hameedullah Akhundzada, the Political Deputy Minister of Foreign Affairs, Alhaj Sher Mohammad Abbas Stanakzai, the Chief of Administrative Affairs Office, Sheikh Noorul Haq Anwar, the First Deputy Governor of Da Afghanistan Bank, Noor Ahmad Agha, the Chief of the PM Office, Dr. Mullah Abdul Wasi, the Governor of Balkh, Alhaj Mohammad Yusuf Wafa, the Chairman of the National Development Corporation, Abdul Rahman Attash and many other government officials and civil leaders participated in the ceremony.

During his address at the ceremony, Mullah Baradar Akhund expressed, "The Qosh Tepa Canal embodies the decades-long aspirations of the Afghan people, reflecting their tireless efforts and dedication to self-determination. Afghanistan relies on imports in many aspects, including food, despite being an agricultural nation with ample



objective of this committee is to expedite the process of attracting both domestic and foreign investments, fostering coordination among relevant ministries and agencies throughout the various stages of investment plans. The committee aims to create a conducive environment for investment and ensure efficient management of affairs. Additionally, it is tasked with providing comprehensive information to investors regarding investment projects in Afghanistan.

Furthermore, a notable development in the realm of foreign investment is the signing of a $216 million investment agreement between the Beijing-Nangarhar Construction and Manufacturing Company and the Ministry of Urban Development and Housing. This agreement outlines plans for the construction of 150 factories, with the potential to generate employment opportunities for approximately 13,000 individuals in the town of Perouzi.

Additionally, pivotal agreements have been inked to harness the economic potential of Afghanistan. A noteworthy development involves the signing of the Amu oil field agreement with a Chinese company, marking a substantial investment commitment of $150 million in the initial year, with anticipated escalations to $540 million in subsequent phases. Further contributing to economic advancement, the Mess Aynak mine contract in Logar has been successfully secured with the Chinese MCC company. The commencement of mining operations is poised to generate direct and indirect employment opportunities for thousands, concurrently bolstering government revenue.

The momentum of economic progress extends to the awarding of contracts for approximately 200 small, medium, and large mines, with the extraction processes already underway. This strategic initiative has not only contributed billions of Afghanis to the government's treasury but has also facilitated job creation for numerous individuals. Another significant milestone was achieved on 15 October 2023 with the signing of a $142 million cement contract with the domestic company Gulbahar Group. The Ministry of Mines and Petroleum reports that, this year alone, it has sealed three major cement projects totaling $462 million. In a parallel development, the Jabal Al Saraj cement production factory recently entered into a contract with a Qatari investor exceeding $200 million, with an annual production capacity of one million tons of cement. This production will meet international standards, positioning Afghanistan to achieve self-sufficiency in cement production.

These tangible outcomes underscore the positive impact of foreign investment on the current and future growth, development, and stability of Afghanistan's economy. The persistent efforts of the Islamic Emirate in attracting foreign investment are evident, and it is poised to yield positive results. This concerted approach is expected to propel the country towards economic growth, followed by development, culminating in lasting economic stability.

Under the auspices of the Islamic Emirate, an autonomous central system has been established, prioritizing the economic development of the nation. Currently, Afghanistan presents ample opportunities for investment, particularly foreign investment, with a seamless and hassle-free process for potential investors. The existing investment landscape has already witnessed significant inflows, resulting in the creation of employment opportunities for thousands of individuals and substantial revenues contributing to the government's treasury.

The Islamic Emirate's ongoing efforts to attract increased levels of investment signify the potential for unprecedented prosperity. With a sustained rise in investment, the nation stands poised to achieve not only economic stability but also an enhanced quality of life for its citizens, paving the way for a developed and thriving country.

## The Significance of

# Foreign Investment

## in Economic Development

By: Fazl Wali Shirani


### Abstract

In contemporary times, numerous developing nations have embraced foreign investment as a strategic avenue to bolster their capital structures and elevate overall investment levels. The current landscape characterizes foreign investment as a pivotal aspect of economic interconnectedness and globalization. While both domestic and foreign investors exercise prudence in deploying capital, prioritizing public welfare and development projects remains crucial in achieving developmental objectives. Recognizing the substantial value of foreign investment, the Islamic Emirate has actively facilitated investment opportunities for international stakeholders.


Afghanistan, with its secure environment, abundant natural resources, investment-friendly governance, cost-effective youthful workforce, favorable business operating costs, seamless international market access via regional connectivity, extensive trade agreements, a dynamic trade milieu, limited market competition, World Trade Organization membership, a dedicated facilitation center for foreign investors, straightforward investment laws, and enticing tax packages, stands out as an optimal investment destination. These attributes have attracted considerable interest from numerous large foreign companies eager to contribute to sectors such as mining, agriculture, electricity, energy, transportation, small and medium enterprises, customs, airports, transit, industrial parks, and railways.

Furthermore, agreements have been formalized with various companies spanning gas pipeline extension, valuable and semi-valuable coal extraction, economic zone establishment, information technology complexes, and other domains. Notably, recent agreements, endorsed in the presence of Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, encompass significant investments in Iron Mine of Ghorian, Herat, Ghor's lead mine, the Samti gold mine, and the second Mess Aynak copper mine in Logar—cumulatively valued at $7 billion. Investors from Turkey, Iran, and England, alongside domestic counterparts, are actively contributing to these ventures.

Moreover, concerted efforts have been undertaken at the state level to allure foreign investment and foster economic collaboration. Notably, various country delegations have visited Afghanistan, engaging in discussions with local officials that extend beyond bilateral relations to encompass key economic and trade matters, as well as the initiation of pivotal infrastructure projects. Among these diplomatic engagements, noteworthy official visits have been conducted by high-level government officials from Turkmenistan, Uzbekistan, Kyrgyzstan, Iran, and China.

A particularly significant diplomatic outreach occurred on August 8th when a delegation led by Mullah Baradar Akhund visited Turkey. During this visit, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund engaged with Turkish officials, alongside Afghan and Turkish investors. He actively encouraged these investors to explore opportunities in Afghanistan, and the positive response was evident as a considerable number expressed keen interest in investing in the country.

In line with these endeavors, an inter-ministerial investment committee was established under the purview of the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, pursuant to a decision by the Economic Commission. The primary

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Office of the Deputy PM for Economic Affairs |
| **Editorial Board:** | Maulvi Saeed Ali, Maulvi Zabehullah, Maulvi Abdullah Azzam, Amanullah Hanifi, and Fazal Wali Shirani |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **Deputy Chief Editor:** | Ahmad Shah Rashed |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojournalist:** | Sayed Ashrat Rahmati |
| **Printing Press:** | Baheer Printing Press |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

Mobile: 0202107500

Email: media@dpmea.gov.af

Website: dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**